# زما ستوری

## ناول



Ketabton.com

لیکوال : جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

سلامونه نیکی هیلی او احترامات مي ومنئ درنو او د قدر وړ لوستونکو زه ډیر خوښ او خوشحاله یم چی دا می لومړی ناول ولیکه او الله ج ماته وس راکړ تر څو یو ناول ولیکم.په دی هیله یم چی دا لومړی ناول ستاسو د تشویقولو په اساس د لسګونو نورو ناولونه سر شي . ددی ناول موضوع د پښتنو په یو ډیر بد رواج راڅرخی چی د ډیرو خلکو هیلی او ارمانونه او حتا کله کله د خلکو ژوند هم له منځه وړی . زه په دی هیله یم چی ستاسو د خوښی وړ موضوع وی او څنګه چی ستاسو هیله وی نو هماغسی می درته لیکلی او چمتو کړی وسی .

که څه هم چی دا زما لومړی ناول دی خو زه په دی باوري یم چی دی ناول کی به داسی څه نه وی چی پر تاسو باندی بده اغیزه وکړی بلکه تاسو به تری یو پند لاسته راوړی. خدای ج دي وکړي چي تاسو زما له دی ناول څخه په لوستلو کی تنګ نشئ او خپل مثبت احساسات مو راڅرګند کړي . تر څو په تاسو باندی مثبت اغیز وکړی.

په درنښت !

ستاسو ورور : جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـۍ

دا ناول دي زما ګران ورور سهيل جان چي تل يي په مخ مسکا خپره وي او د خزان په موسم کي هم لکه د پسرلي تازه وي هغه ته دي ډالۍ وي

سهيل جان چي تل يي زه خوشحاله کړي يم او زما په خوشحالۍ يي خندلي او په خفګان يي په زړه کي ژړلي دي د ملګرتيا په ټولو اصولو پوره شخصيت دي!

زما ورور دي تل خوشحاله او کامياب وي!

♥

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده وم یو دم می د چرګانو تیره اذانونه تر غوږه شول. زه لا سم ویخ شوی نه وم چې مور می دروازه راوټکوله " زویه آوری بس نو سبا شو پاڅه لمونځ دی وکه ګوره لمر درباندی څړیکه وهي " ما ځان په لتی واچوه خو مور می دا ځل په غوصه راغږ کړ " هی پاسه کنه بیګاه دی هم لمونځ نه وو کړی هله نو کوزه می درته ډکه د تشناب مخی ته ایخی ده. زه ولاړ شوم په رختیا چې د سهار تته رڼا وه د کوټی دروازه می پرانیسته خور می هم د لمانځه لپاره پاڅوله . کله چې مور زه ولیدم چې له کوټی راووتلم نو هغه د خپل کار پسی لاړه . زه په زنګیدلو قدمونو د برنډی نه لاندی حویلی ته راښکته شوم کوزه د تشناب مخی ته پرته وه ورغلم اودس می وکړ د خکی لوری رڼا زیاتیده په برنډه کی مي لمونځ وکړ له دعا وروسته می خور هم راغله او په جاینماز ودریدله.

د سحر خکلی تازه هوا می روح ته خوښي وربخله- له لمونځ وروسته همدلته په برنډه کی د چایو په انتظار کیناستم مور ته می غږ کړ " موری وه موري آوری مور می وویل " هو وایه زویه څه وایی اشپزخانه کی یم " ما وویل " موری زر کوه چې وږی یم او ماته پرون حنا وویل چې موږ سحر وختی چای څکو بیا د لوبو میدان ته راوځو ګوره تول به مانه مخکی راغلی وی لوبو ته -بیا وروسته ما لوبه کې هم نه منی خیر دی موری زر کوه " مور می وویل " صبر و که زویه نن خدای وهلي غوا نه ودریدله کنه وختی به چایی تیار وو " بیا می مور ته وویل " رختیا پلار مې چیرته دی " مور می وویل هغه له جوماته تروسه ندی راغلی اوس به راشی " زه غلی شوم ما دیوال ته تکیه کړی وه خور می هم اشپزخانی ته ورغله . ماسره دوه توشلی وی هفی سره می لوبی کولی له

ځان سره می وویل نن به سره ګورو چې سوک به ډیری توشلی ګټی پرون خو یی رانه هسی په تګی وګټلی- شیبه وروسته د دروازې کړپ شو دروازی ته می وکتل پلار می وو . هغه هم برنډی ته راوخته راسره کیناسته راته یی وویل " حیماده لمونځ دی وکړ " ما وویل " هو پلار جانه " پلار می وویل " ته منده کړه هغه رادیو راوړه چې د خبرونو وخت نژدی دی . " دی خبری سره پلار می له سره لونګی خلاس کړ ډده یی ووهله ما ورته وویل " پلاره رادیو دی چیرته ایخی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل " هغه وړه کوټه کی د لرګی بکس کی ده . بکس په کلاره خلاسوه چی درز پکی راغلی دی " زه په منډه کوټی ته لاړم کوټه کی تیاره وه یوه کړکۍ می خلاسه کړه رڼا شوه د یوه زوړ کټ لاندی لرګین بکس وو هغه می خلاس کړ دا بکس ډیر پخوانی وو . پلار به می ځینی مهم شیان پکی کیخودل نور لرګین بکسونه هم وو خو دا می د پلار وو خلاس می کړ یوه خیرنه او غټه رادیو پکی وه راوامیخیسته پلار ته می ورکړه خور می دسترخوان راوړه سوچه غوړی او نور پیالی او چایی می مور راوړل ټول چایی ته سره راغونډ شو مور می وویل " هغه د احمد کاکا غوا سنګه وه بیګاه یی ډیر زړیروی راتلل " پلار می په ډکه خوله وویل " هغه خوارکی نه وه ښه ویل یی ولسوالی ته ځم هلته یو کلینیک شته که هفی سره هم ښه نه شوه نو بیا یی له مخی وره کوم - " مور می وویل " ویش خدایه سومره غټه غوا وه خامخا به نظر وهلی وی " . ما چای بس کړ پلار مي راته وویل " ته ورشه وګوره زونډی ګل ماما خو به دی رمه نه وی راویستی که راویستی یی وه نو زویه ته هم رمه خلاسوه زه دغه یو پیاله چای تر ستونی تیروم بیا زه هم درځم - " ما وویل ښه پلاره . زه له دروازې ووتلم ماما می هم خپله رمه راویستی وه چی زه یی ولیدم راغږ یي کړ " حیماده پلار دی سه شو ؟ ورغږ کړه چی بیا ناوخته کیږي او رمه هم وږی ده " ما ورته وویل " ماما زه رمه راخلاسوم پلار می هم راځي " زه په منډه کورته لاړم پلار ته می احوال ورکړ بیا د کور بلی دروازی ته چی هلته یوازی زموږ رمه وه ورغلم خور ته می غږ کړ " زرمینی وه زرمینی ته دروازی خوله کی رمی ته ودریګه چی رمه بهر ووځی " زه په منډه د رمی ځایي ته لاړم د رمی د مخی لرګینه وړه دروازه می خلاسه کړه رمه له دروازی زموږ کورته او بیا همفسی بهر ووتله مور مې د تل په څیر پلار ته د خوراک لپاره یوه کڅوړه برابره کړه تر څو لار کې وږي نه شي پلار مي کڅوړه غاړی ته کړه اوږده لختته یی له زانه سره واخیسته د کور نه د وتلو وخت کی راته وویل " ګوره حیماده چی له کوره لری لاړ نشی همدلته دي د همزولو سره لوبی کوه خه زوی جانه آفرین ته خو می تکره زوی یی ' پلار او ماما می دواړو یوځای رمه د مخامخ خکلی شین غره طرف ته روانه کړه او کلار کلار روان وو تر شاه یی خړه دوړه ورپسی وه . مور می د کور په کارونو بوخته شوه زرمینه او زه د ماما کور مخی ته چی موږ سره نژدی او ګاونډیان وو ورغلو د هغوی کور مخی ته یو کوچنی میدان وو چی ټولو ماشومانو به پکی لوبی کولی حنا چی زما د خاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور وه او د هغې یو ورور چې سهیل نومیده او دوه د سجاد کاکا چې زموږ ګاونډیان وو لورګانې وې او لوبې یې کولې ورغلو حنا دوی ټول سره کیناستو د توشلو لوبه مو پیل کړه حنا زما پلوی وه . جول مو سره وویشت زه تر ټولو مخکې وم پیل ته مې زان ورسوه د پیل خواکې زما توشله حنا ودروله په اول وار ترې ما وګټله دوهم ځلې زما خونده نه وه

حنا ته مي غوږ کې وویل " چې نن غالي ونکړم خدای شته که یوه توشله هم راسره پاتې شې " حنا راوکتل په مسکي انداز یې راته سر وخوروو . کله یې چې زه د خاله زوی سهیل او زرمینې توشلو کې ګیر کړم او کله یې چې زما توشله ویشتله نو د توشلې له شاه مې پخه لرې کړه . توشله لرې لاړه - سهیل راغبږ کړ " هی ټګی جنه ولې دې پخه لرې کړه . دا زه نه منم بیا به خپل وار کوم " ما او حنا ورسره ونه منله او لوبه مو جنجالې کړه بیا مو د چیندرو لوبه پیل کړه - همداسې لوبې مو کولې د لوړ چنار د یخ سیورې لاندې چې تر ځنګ مو ویاله کې لپه لپه اوبه هم روانې وي په لوبو بوخت وو . کله به مو چې ګرمې وشوه نو بیا به مو ویاله کې لامبو کوله.

د سحر لس یجې به وې یخ شمال لګیده لمر ژیړې وړانګې د غنمو په شنو پټو شیندلې . خاله مې له کوره ګند بهر اچوه او موږ ته به یې وکتل مسکي به شوه . کله کله به زما مور او خاله یوځایې زموږ د لوبو ځایې ته چې یو سه پناه وو راتلې او زموږ سیل به یې کوو . پلار او ماما چې نوم یې زونډې ګل وو او زما د خاله میره او د حنا او سهیل پلار وو نو موږ به ورته ماما ویل یوځای به له رمو سره د غرونو په لور تلل او بیا به د مازیګر د لمر پریوتو وخت کې کورته راتلل . زما مور یوازې یو ورور درلوده چې د مور په وینا مې چې هغې راته ویلې وو ' موږ چې کله واړه وو او دا چې زموږ کورونه هم یو سه زاړه او پخوانې وو او د غریبې ژوند وو نو یوه ورځ مې کوچنې ورور په کوټه کې وو او مور مې هم کوټه کې وه زه او زما خور او پلار مې پټې ته تلې وو چې راغلو زموږ په کور بد حال وو . چې لږ ورنیږدې شو ټولو ژړل او توبې یې ویستلې خو لنډه دا چې ورور او مور باندې مې کوټه راغور ځیدلي وه -پلار مې بل واده وکړ خو اولاد یې پیدا نشو همدا زه او زما خور خاله دې پاتې شو " چې خاله مي اوس د زونډې ګل میرمن ده - زونډې ګل دوه ورونه درلودل هغوی پیښور کې وو هلته یې ښه کار جوړ وو کله کله به زونډې ګل ماما پیښور ته ورتله د زونډې ګل ورونه په پیښور کې په یوه فابریکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی کار کوه - زونډی ګل ماما می پلار ته د وروری لاس ورکړی وو پلار به می هغه په مشوره کی یاد ساته او زونډل ګل ماما مي هم د پلار احترام ساته او په هر کار کی به یې ورسره ملاتړ کوو . پلار می یو ورور لری چی کوز کلی کی زما له ابا او انا سره یوځایی اوسی کاکا مي زما له پلار سره تعلقات یو ښه نه وو هغه هم دا وه چی کاکا به می ویلی چی دا مور او پلار دی ماته را پریښنی او خپله بیل یواځی اوسیګی . خو پلار مې چې یو مهربانه سړی وو زما کاکا ته یی احترام درلوده خو کاکا او د کاکا زامنو می بیا له مور. سره چندان نه لګیدل.

د سبا ناری وخت شو له لوبو او جنجالونو نه نور ستړی وو حنا خپل ورور سهیل ته وویل " زه ځم چی مور به مې د سباناری چایی کړی وی هغه به راوړم حیماده چی تاسو هم لاړ نه شي بیرته ژر راځم " کله چی حنا په منډه د کور په لور لاړه شیبه وروسته زما خاله او زما مور او حنا له یو خړ ترپال سره راخکاره شول .
حنا رامنډه کړه او ویویل " هي دا دی دوی هم راغلل اوس به په ګډه چایی وسکو " مور می ترپال هوار کړ خاله می پری شین چایی کیخوده ټول سره په ګډه د لوړ چنارونو لاندی یخ سیوري ته ناست وو . او چایی مو سکه - خاله می مورته وویل "لالا می سه وایی چی د احمد کاکا غوا ځنګه شوه ډیری چفی یي....

راختلی " مور می وویل " وی تروسه لا خه نه ده د ولسوالی کلینیک نه ورته دوا اخلی . د کور په دواګانو یی کار ونه شو هماغسی چفی وهي او واښه نه خوری " خاله می وویل " خوريې غږ مه کوه دا نظر وهلی ده هغه د کوز کلی ماجبینه ترور نه ده سم د غشی سترګی لری داسی یی نظر لګی چی بیخی - زونډی ګل پرون راته وویل چی ددی رمی د نظر لپاره سه غم اوخورو هغه نظربازه هر مازیګر زمور. مخی ته ولاړه وی " مور می وویل " هو نن سبا د ماجبینی نظر ډیر لګی مور. خو هر اوری ته په سر یوه د نظر ماتی لپاره توری ټوټی تړلی دی " خاله می پیالی نه غړپ وکړ او د هو په ډول یی سر وخوروو . مور می وویل " هفه عظمه ګوډی لور می ځنګه ده حنا ووول تبی یی کولی " خاله می وویل " هو هغه بیچاره لږه ناروغه وه اوس مي ویده کړه زانګو کی می اچولی ده د خاله زویی چی یو سه له ما او حنا او زرمینی ډیر کوچنی وو خپلی مور ته په ژړا شو " موری زه به دا ګرم چایی سنګه وسکم خو هغه جام به دی هم درسره راوړی وو کنه نی نی ماته یخ چای " ما او حنا او زرمیني د سهیل پوری خه وخندل خاله خپلی لور حنا ته وویل "وه حنا ژر کوه هله ژر پیاله وزګاره کړه چی ورور ته دی پکی چایی یخ کړم "

(c) ketabton.com: The Digital Library

حنا چی دا واوریده نو په ورخطایی یی گرمی پیالی نه غټ غړپ وکړ . حنا خیز وکړ او له خولی یی وړه چغه ووته شونډی یی پری وسوځیدی - زرمینی او ما ورپوری وخندل حنا خپل ورور ته په قهر وویل " هه واخله شونډوره زه یی نه سکم ستا له لاسه می زان وسیزه " سهیل بیا مور ته ناری کړی " ای موری دا وگوره کنه ماته یی بیا شونډور وویل " مور یی حنا ته تندی تریو کړ او په قهر یی ورته وویل " حنا ته خو غټه ښځه یی ولی دی ورور پورې لگیږې " حنا سر ښکته کړ . سباناری چایی مو وسکه د غرمی یوولس نیمی بجی وی مور او خاله می خپل کورته لاړل موږ بیا په لوبو بوخت وو له خاورو مو کورونه جوړول او بیا مو ورانول . تر دی چی د غرمی دولس بجی شوی زه او زرمینه د خپل کور په طرف او حنا او سهیل د خپل کور په طرف روان شول- په تلو کی راپسی حنا غږ وکړ " له ډوډۍ وروسته بیا موږ کره راشئ چی زموږ له کوره بیا مدرسی ته لاړ شو - " موږ ورسره هو وکړ او روان شو حنا چی د خاله می مشره لور وه ډیره مهربانه او مینه ناکه انجلی وه زه او زرمینه پری ډیر گران وو پر موږ هم گرانه وه ډیر وخت به کله موږ کره وه کله به موږ د هغوی کره وو خو کله به چی زما انا له کوز کلی له موږ کره راغله نو شپه به یی موږ کره کوله بیا به نو دا شپه حنا موږ کره وه . خو خیر زه او زرمینه کورته ننوتو مور مې له تنوره وروستی ډوډی راوویسته . خواته یی ورغلم د مور سترگی می د تنور تریخ لوگی سری کړی وی زرمینه کوټې ته لاړه زه د مور خواکی د تنور په غاړه کیناستم مور می راوکتل. او راته یی وویل " حیماده لږ ورهخوا کینه سترگی به دی ترخی شي زه کوټي ته لاړ شه دا دی زه هم درځم بیا به په گډه ډوډی وخورو " ما وویل " موری دغه وړوکی ټیکلی ماته اوس راکه زه وږی یم " مور می راوکتل او ویخندل " ای خیټو خو لږ مخکی دی سبا ناری وکړ دومره ژر وږی شوی هه دا واخله په لمنه یی ونیسه چی ټیکلی سور دی " ما تری ټیکلې واخیسته او کوټی ته. لاړم د لوبو توشلی می خپل ځایی کی کیخودی زرمینی راغږ کړ " وه حماده راشه لاس دی ومینځه دودی ته راشه " شیبه وروسته د دسترخوان څنډی ته ناست وم . خه په خوند مو ډوډی وخوړله لمونځ لپاره می اودس وکړ له لمونځ وروسته حنا راپسی کورته راغله او په گډه د مدرسی په طرف روان شو - دا مدرسه د جومات د ملا په کور کی وه او د ملا میرمن د قران کریم درس د کلی ماشومانو ته ورکاوه مکتب خو هسی هم په ټول کلی کی نه وه .چا د مکتب شوق نه کوو که سوک به مکتب ته تله نو هغه ته به کلیوالو بل نوم ورکاوه چی دا د خلقیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خویی کوی - یوازی یو مکتب وو هغه هم په ولسوالی کی خو زموږ له کلی هیڅوک نه ورتله مکتب ته - بس د سادگی او کوچانو ژوند وو . د کلی له یو څو کوڅو تیر شو له ښکلو شنو غنمو پټو نه هم ورواوختو په لاره کې مو د شړشمو ژیړ ګلان راوشکول او بیا لږ مخکی یوه هدیره راغله هلته مو په قبر کیخودل . همداسی په کلاره کلاره مدرسی ته ورسیدو مدرسی ته لس دقیقی لاره وه - چی ورننوتو حنا وویل " حیماده ته ووایه هغه ټکي سنګه وو مانه خو هیر شو " زرمینی وخندل " وه اوسه پورې دی له زانه سره تکرارو او اوس درنه هیر شو ولی " ما حنا ته وویل " خه ته رادیخوا کړه سپاره دی " هغی ته می درس وخوده او مدرسی ته ننوتو د مدرسی وخت د یوی نه تر دریو بجو پوری وو کله چی رخصت شو کورته راغلو په کور کی می په انا سترګې ولګیدی ما او زرمینی چغه کړه " هله انا ستړی مشی ته کله راغلی !! " بیا د انا خواته ورغلو دواړه یی ښکل کړو . او تر څنګ یی کیناستو مور می زموږ برخه د مازیګر چایی راوړه او چایی مو سکه زرمینی ته مي وویل " هله خوری ته حنا ته خبر ورکړه چي انا راغلی ده هغه به هم راشی هله ژر کوه چی بیا واښه هم غوا ته راوړو هله " خور می په منډه لاړه شیبه وروسته حنا هم راغله هغی هم انا ته غاړه ورکړه او ډیره خوشحاله شوه حنا انا ته وویل " انا دا ولی بیخی راتلی نه دا وار خو دی بیخی ځنډ وکړ رختیا بیګاه ته دی زه له ځانه سره کورته بیایم " ما او زرمینی وویل " ننه ولی آنا به موږ کره یی " په همدی مو سره غوغا شوه انا می وویل " هي زما لیونیانو لمسو زه له تاسو سره یم او تاسو له ماسره یی که ژوند وو نو حنا ، سبا شپه به می تاسو کره وی نن خو دلته یم " حنا مروره غوندی شوه زرمینی ورته وویل " خفه کیګه مه حنا نن به ته موږ کره شپه کوی سبا بیا لخیره زه او حیماد له انا سره هلته درځو " حنا پدی خبره خوشحاله شوه مور می راغږ کړ " هی زر کوی ناوخته دی غوا چغي وهي او واښه نشته " . حنا کورته لاړه تر سو د وښو سادر او لور راواخلی موږ هم لرونه او سادرونه راواخیستل . زموږ یو کوچنی پټی وو چی دغواګانو لپاره مو پکی شفتل کرلی ول او له هغې به مو هر مازیګر شفتل ریبل دا پټی زما د پلار او د زونډی ګل ماما شریکه وو نو ځکه به حنا هم راسره واښو ته تله هغی او سهیل به خپلی غوا ته واښه ریبل او موږ به خپلی ته . همداسی د حنا دوی سره د پټي په لور روان شو دغه پټی د حنا دوی د کور څخه شاته وو - د پټي په نرئ پوله روان وو دواړو خواوو ته د شړشمو ژیړ ګلان د مازیګر ژیړ لمر ته پړکیدل حنا وویل " رختیا حیماده دا وار به آنا کومه کیسه راته کوی هغه تیر ځل سومره خه**



لیکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه یی راته وکړه " زرمینی وویل " هغه پیکی کیسه ښایی " حنا وویل هو ما وویل " هو هغه سنګه خایسته کیسه وه خو دا وار ورته وایو چی یوه بله اوږده کیسه راته وکړی ـ سومره خوند به وکړی" زرمینی وویل " شکر خدایه چی آنا لرو " . همداسی خبرو خبرو کی پټی ته راورسیدو سادرونه مو خواره کړل او د شفتلي په ریبلو مو شروع وکړه د پټي ټلګي مو سره بیل کړل ما او زرمینی یو طرف ټلګي ونیوه او حنا او سهیل چپ طرف ټلګی ونیوه . تر نیم ساعت

پوری مو واښه وکړل خو د حنا د وښو پنډ لا نه وو جوړ . لږ یي پاتی وو ما له حنا سره ژر ژر د هغي واښه هم پوره وریبل ، پنډونه مو سره وتړل بیا مو په ویاله کې مخ او لاسونه ومینځل د دمی کولو لپاره یوه شیبه په پوله کیناستو د کلي د لوبو له میدانی نه د هلکانو غږونه راتلل ډلې ډلې مرغان په هوا کی د یو ټولی په څیر تیریدل د مازیګر لمر ورور ورو په ژیړیدو وو . حنا وویل " راځی چی د شفتلو له ډنډو نه بنګړی جوړ کړو چی څوک به یی ډیره جوړوی دا پریکړه به آنا ته پریدو تر وسه خو هسی هم وختی دی " بنګړی مو جوړ کړل شیبه وروسته له خپلو پنډونو سره کورته روان شو . حنا چی کورته تاویده نو ویویل " زه لږه وروسته درځم چی پلار می رمه راولی " موږ هم کورته ننوتو پنډونه مو ځای پر ځای کړل شیبه وروسته بهر ووتلم د مازیګر لمر په پریوتو وو . د پلار په تمه د کور مخکي ولاړ وم چی د حنادوی کورته می وکتل حنا هم د کور مخکی د پلار په تمه ولاړه وه راویکتل لاس پی وخوروو مسکی شوه . وروسته رمه راورسیده . زوندی ګل ماما هم ورسره وو رمه مو دننه کړه . پلار می د انا په لیدو ډیر خوشحاله شو . ستړی مشی یی سره وکړه مور می پلارته اوبه واچولی . د پلار د اوږده سفر دوړي یی له مخه ښکته شوی مور می د رمی په لوشلو بوخته شوه پلار می یو د کور چرګه د انا لپاره حلاله کړه . د ماخام دلمانځه وخت شو لمونځونه مو وکړل حنا هم راغله پلار می ستړی مشی ورکړه او ورته یی وویل " لوری نن خو به ډیره خوشحاله یی چی آنا دی راغلی کنه " آنا می وخندل حنا هم مسکی شوه سه یی ونه ویل . دا چی موسم یوسه ګرم وو نو موږ به د شپی د بام په سر سملاستو چی بام مو خایسته بنیری هم درلودی .ما او حنا له زرمینی سره شروع وکړه او توشکی او برستنی مو بام ته خیژول . هر سه مو په ځای کړل زرمینی یوه سترنجی هواره کړه او بالختونه مو پری کیخودل انا مو هم پاس بام ته راوخیژوله ټول تري راتاو شو . تیاره ورور ورو زیاتیده پلار می له لاټین او خپلی رادیو سره راغی لاټین یی په میز کیخوده او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا په خوا کی کیناست زرمینی ته یی وویل " هله لوری مور دی ځانته ده خواړه ورسره پاخه کړه " زرمینه په تریو تندی ولاړه شوه خو سه یی نه ویل حنا وروکتل مسکئ شوه ورته یی وویل " زه هم درسره ځم " ما وویل " زه درشم حنا شاته راوکتل " نه بیرته ژر راځو " پلار او انا می خپلو کی مرکه کوله ما آسمان کی ځوارلسمی ځلیدونکی سپوږمی ته کتل چی ستوری تری راتاو ول او سپوږمی ورته د خپلی ښکلا کیسی کولی . زما د شپی تور آسمان ډیر خوخ وو یا به له ستورو ډک اسمان وو او یا به پکی ځلیدونکی سپوږمی خکاریده .ما زرمینی او حنا ځانته پکې خپل د خوښی ستوری خوخ کړی وو او کله کله به مو آسمان کی روان ستوری شمیرل . زه همداسې د حنادوی په انتظار کی ناست وم چی شیبه وروسته حنادوی له چلمچی او دسترخوان سره راغلل مور می هم تر شاه راروانه وه دیګ او کاسی ورسره وی ناوخته وه. ډوډی مو وخوړه انا می د مور د پخلی ډیر صفت کوو . ښه په خوند او مزه مو ډوډی وخوړه له ډوډئ وروسته مو لمونځونه وکړل . مور می چی چایی یی له مخکی دم کړی وو بام ته راوخیژوو زرمینی پیالی ډکی کړی ما او حنا ته یی هم مخی ته کیخودی حنا آسمان کی سپوږمۍ ته وکتل بیا یی ماته وکتل " هاغه ستا ستوری سه شو " ما هم اسمان ته وکتل خپل ستوری می پیدا کړ چی ددوه تنه رڼا لرونکو ستورو تر منځ پرکیدونکی ستوری وو حنا ته می د ګوتې په ایشاره وخوده شیبه وروسته زرمینه هم راغله د انا بلي خواته کیناسته پلار می رادیو چالانه کړه مور مې هم د انا څنګ ته رانیږدې شوه تر نیم ساعت پوری - آنا ، مور او پلار می خه مرکه وکړه او بیا مې پلار چی ډیر ستړی وو له انا څخه یی ایجازت وغوښته او په تیار شوی کټ کی سملاسته مور می د پلار رادیو چالانه کړه او دومره

یی ورو کړه چی یوازی یی خپله اوریدلی شوه او غوږ ته یی نیولی وه موږ ته یی راکتل حنا ته یی وویل " حنا لوری مور دې نه راتله هغه به دی هم راوستی وه " حنا وویل " مور می ویل بیا به بل وخت ګورو " مور می دا خبره وکړه او رادیو ته یې غوږ ونیوه . زه حنا او زرمینه په خپلو کی په جنګ وو تر سو یوه انا راته یوه کیسه وکړی هغه هم زموږ د هر یو په خوخه . آنا می وویل " هي جنجال مه کوی هر یو ته به د خوخی یوه کیسه وکړم " بیا مي انا خپل زنګون اوږد کړ ما حنا او زرمینی ټولو پری خپل سرونه کیخودل آنا می زمونږ په سرونو کی ګوتی وهلی چی زما دغه حالت ډیر خوښېده . آنا می لومړی رانه وپوښتل " تا سو ته چې ما کوم ستوری خوخ کړی وو اول راته هغه ووایی "

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور ټولو ورته خپل ستوری په نښه کړل . انا می وویل " خه نو دا ځل می ستاسو ستورو ته نومونه هم پیدا کړی " مور ډیر خوشحاله شو انا مي وويل " حیماده ستا د ستوري نوم شو مشتری حنا ستا د ستوری نوم شو زهره زرمینی ستا د ستوری نوم شو مریخ زموږ د ټولو دا نومونه ډیر خوخ شول حنا وویل " سه خایسته نومونه دی انا سنګه چی ته خوږه یی داسی دا نومونه هم خواږه دی " انا می تری مننه وکړه او ویویل " خه زما ګلالیو لمسیانو کیسی ته غوږ شی " موږ ټول چپ شو انا می کیسه شروع کړه . هر یو خپل ستوری ته کتل . کیسه به لا منځ ته نه وه رسیدلی چی زموږ سترګی په خواږه خوب ورغلی وی . یو وخت می مور راباندی غږ وکړ " حیماده وه حیماده هله پاسه زویه چی هوا یخه ده کوټی ته لاړ شه هلته مې درته ځای تیار کړی دی هله زویه " سترګی می خلاسی کړی کټ کی غونج پروت وم د سحر تته رڼا خکاریده کوټی ته لاړم زرمینه او حنا دوی هم ویدی وی همیلته کوټه کی سملاستم . شیبه وروسته می انا راغږ کړ " هلئ لمسیانو جګ شي لمونځ وکړی چی ناوخته دی " زرمینی دی ټول راویخ شو لمونځ مو وکړ د انا سره برنډه کی کیناستو پلار می هم راغی- انا مي راته وویل " رختیا تاسو خو زما بیګانئ ټوله کیسه واوریده کنه " موږ وخندل ته " لا خبره نه وی آنا چی موږ ویده شوی وو یوازی د کیسې د پیل یو سو خبری مو واوریدی " انا می وخندل " خه نو چی کله زه درته کیسه کوم په تاسو خوب راشی ما هسی ټوله کیسه ځانته تیره کړی ده تاسو لکه چی ویده وی " موږ وخندل " هو کنه انا " د سحر د لمر ژیړی وړانګي زموږ د کور په برنډه لګیدلی مور می چایی راوړه له چایو وروسته می پلار بیا رمه د زوندی ګل ماما سره د غره په لور روانه کړه . حنا هم کورته لاړه شیبه وروسته مو بیا د لوبو سامان واخیسته او د لوبو ځایی ته لاوړو آنا می هم راغله یخ سیوری ته په ترپال ناسته وه موږ لوبی کولی همداسی وختونه تیریدل . تر دی چی بیا مازیګر شو پلار می د رمو سره نه خکاریده سودا می شود یوازی زوندی ګل ماما وو چی رانیږدی شو ما تری وپوښتل " ماما زما پلار سه شو " ماما مي وویل " زویه هغه د کاکا زوی دی نه ده هغه سجاد په لاره چی راتلو هغه ستاسو یوه اوزه په خطایی کی په لینده وویشته اوزه یی درته دا دی ګوډه کړه پلار دی سجاد اول خه ووهه بیا یی ویل چی ځم کور کي يي پلار ته وایم زما اوزه یی راته ګوډه کړه پلار دی سخت غوصه وو خو ملامته هم نه دی سجاد اوزه یی ډیره بی دریغه وویشته او شیبه وروسته به راشی دا اوزه درسره په غیږ کی کورته دننه کړه خوارکي په لاره سمه نه شی تلای - زه ډیر ورخطا شوم اوزه می غیږ کی دننه**



ليکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه نوره رمه راپسی شاته راروانه وه چی کورته ننوتم د مور راباندی سترگی
ولـگیدی راغږ یی کړه " خدایه خیر کړی حیماده ولی په دی اوزه سه شوی پلار
دی سه شو " مور ته می ټوله کیسه وکړه مور می ډیره غوصه شوه ډیری خیرا
یی سجاد ته وکړی ژر ژر یی د اوزی پخه پاستمان کړه نوره رمه ما دننه کړه انا
او زرمینه دوی د حنا کره تللی ول . ما له مور ایجازت وغوښت چی زه څم د حنا
دوی کره . مور می لږه په قهر وه ویل یی چی وروسته به لاړ شي ما د ماخام
لمونځ وکړ پلار می په داسی حال کی په دروازه راننوته چی ډیری سپکی
سپوری یی زما کاکا ته کولی ډیر په قهر وو د گریوان تنۍ یی شلیدلی وی . مور
می پری غږ وکړ " وه سړیه دا ولی دوي د بی ناموسه زامنو سره دی لکه چی
لاس او گریوان کړی وو " پلار می په داسی حال کی چی کټ کی کیناسته وویل "
دا د سپی اولادونه دی ددی په ځای چی زه ورته د سجاد گیله وکړم پر ما یی
رامنډه کړه چی ولی می سجاد وهلی خو خیر داسی سوکان یی رانه وخوړل چی
عمر کی به یی یاد وی که کلیوالو خلاسی نه وو کړی نو سم می پستول خدایی
وهلی هسی یوه بهانه غواړی سم زړه یی راته ډک دی خدایی دی په خپل قهر
اخته کړي " مور می وویل " هو دا بی ناموسه زامن دی خدای ووهی ډیر یو
کینه گرکی او بد اخلاقه قوم دی خیر دی چی هر سه وو تیر شو خه ده چی ته په
خیر راغلی الله دي دوی ته خپله سزا ورکړی راځه لوټه می درته ډکه کړی
اودس دی وکړه چی لمونځ قزاکیږي " پلار می لمونځ وکړ ماته یی ویل " حیماده
زویه انا او زرمینه نه خکاری هغوی سه شول " ومی ویل " پلار جانه هغوی
حنا دوی کره دی " بیا یی راته زما د زړه خبره وکړه " ځه زویه ته هم لاړ شه
ستا به هم زړه کیږي خو انا ته دی زما د جنگ په اړه سه ونه وایی " ما خه
وکړل او له دروازې ووتلم . هلته چې لاړم خاله مي ستړی مشی راکړه او راته
یی وویل ,.,زه پاس بام ته وخیژه هغوی هلته بام کی دی زه چی بام ته وختلم
کتل مي چي ټول د لاټین په تته رڼا کی غلی ناست دی لکه د یو چا خبر ته چی په
تمه وی چی زه یی ولیدم نو ټولو په ستړي مشی راکړه آنا سره می کیناستم
زونډی گل ماما رانه وپوښتل پلار دی راغی " ما وویل " هو راغی " پوی شوم
چی دلته هیسوک هم ندی خبر حنا راته وویل " ولی دی ناوخته کړ " ما وویل "
مړه مور می اجازه نه راکوله ویل یی چی زرمینه هلته ده ته مه ځه " زه په
سوچ کی ناست وم د پلار خلاس گریوان او کاکا می رایاد شو د غوصی نه می
وینی جوش کوو حنا خپله کوچنۍ خور راوسته ټول تری راتاوو شو .لومړی ما
واخیسته خکل می کړه ماسره ډیره بلده وه زرمینی سره یی نه لگیدل هغي به


لیکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګوله بیا مو منځ کی کینوله سهیل هم ناست وو زرمینی وویل " حنا دا عظمه ټوله تاته راغلی حنا خپل ورور سهیل ته وکتل غومبوری یی پری تاو کړل ویخندل او ویویل " دا می دی وړوکی شونډور لالا ته راغلی ده سهیل حنا له ویښتو ونیوله موږ ورپوری وخندل حنا ته یی وویل " شابه هله توبه وباسه وی بیا شونډور نه ویم درته " حنا غلی چغه کړه " توبه توبه شونډوره بیا درته شونډور نه وایم " انا می وویل " وه زما ګلالی سهیل جان پوری ولی خاندی دا خو می خایسته لمسی دی " موږ عظمه خه تنګه کړه حنا به پری غوصه کیده ما به تری غوږ ورو کش کړ زرمینی به عظمه له مخه کش کړه حنا وویل " اوف خیر دی مه یی زوروی " خو د حنا د غوصه کیدو لپاره به مو عظمه تنګوله .
اخیر حنا خپله خور آنا ته ورکړه بیا یی وویل " وی هغه زموږ ستوری رختیا هغه زموږ د ستورو نومونه " له موږ نه د خپلو ستورو نومونه هیر وو ما له انا وپوښتل " انا زموږ د ستورو نومونه سه وو مانه هیر شول " انا می رایاد کړل.زه حنا او زرمینه پاس کټونو ته وختلو او خاله ماما او انا می په سترنجی ناست وو مرکه یی سره کوله . موږ خپلو کټونو کی اوږده وغزیدو یو بل ته مو پاس په آسمان کی خپل ستوری ورخودل حنا وویل " وی کاش چی زه خپل ستوری ته ختلی شوم رختیا چی دا

ستوری به سنګه شکل لری دا به سه وی " ما وویل " دا کیداشی واړه واړه ګروپونه وی " زرمینی وویل " عجیبه کار دی د ورځی نه وی او د شپی وی " دی وخت کی سهیل له بل کټ نه غږ وکړ " وئ هغه وګورئ یو روان ستوری می پیدا کړ هغه د سپوږمي لاندی وګوره هغه دی " حنا په ملنډو وویل " ههههه دا خو د شیطان کاڼی دي روان ستوری پیدا کول دومره اسان ندی ما وویل " زما خو دا شپه او مازیګر وخت ډیر خوښیګی شپه می ځکه خوښیګی چی خپل ستوری پکی ګورم او مازیګر می ځکه خوښیګی چی ټول په ګډه په چکر چکر د وښو لپاره پټی ته خو " حنا هم زما خبره تایید کړه . زرمینی وویل " سومره خایسته وختونه دي ټول سره یوځای یو انا می راته کیسی هم کوی . خه ده چی حنا ستاسو کور زموږ سره نیږدی دی کنه یوازی خو به زما زړه چاود وو " حنا وویل " هو کنه که تاسو نه وایی ما به چا سره لوبی کولی هغه د کاکاګانو غوندی خه دی لری نه یی کنه بیا به می تاسو هم نه پیژندلی د کاکا لورګانو غوندی " ما وویل " راځی روان ستوری پیدا کړو " ټولو وویل راځی- ټولو یو یو ستوری پیدا کړ خو زه پکی پاتی راغلم خور می راپوری خندل خو حنا وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

" زرمینی ولی حیماد پوری خاندی کله کله په کی داسی هم کیږی " خاله می دسترخوان هوار کړ ډوډی مو وخوړه انا می خپل زنګون بیا خور کړو موږ پری سرونه کیخودل او خوندوره کیسه یی راته شروع کړه له لیرې د ګیدړانو اوازونه راتلل آسمان کی سپوږمي ورو روانه وه همداسی پسی ویده شو . وختونه تیریدل په سبا می انا هم خپل کورته لاړه موږ ورپسی خفه وو د وخت سره سره زونډی ګل ماما مي د کاکا او پلار روغه وکړه خو بیا هم کاکا او دکاکا زامنو می پلار ته د تیری ورځی جنګ نیت خراب کړی وو . زما کاکا یو تریخ مزاجه او کینه ګرکی سړی وو دری زامن لرل زامن یی هم چندان خه نه وو د هر ډول رزالت تمه تری کیدای شوه .شاید زما د کاکا نیت پدی هم بد وو چی موږ خه پریمانه رمه درلوده او د کاکا په پرتله زمور اقتصاد دوه چنده خه وو خو زما کاکا بیا خه ژوند په موږ چیرته لوریده . ورځ په ورځ یی زما له پلار سره د زړه کینه زیاتیده . ژوند همداسی دوام درلوده . بله خوا زما او حنا او زرمینی مینه ورځ تر بلی زیاتیده تل به مو په ګډه لوبی کولی مدرسی ته به تلو د لوبو په ځایی کی راته زونډی ګل ماما ټال هم واچوو چې ټوله ورځ به مو پکی په نوبت سره زا نګل وخت په تیریدو سره حنا زما ډیر خیال ساته هیسکله یی زه نه خفه کولم زه پری ډیر ګران وم خو زما به هم ورسره مینه وه د خوښۍ وختونه تیریدل . داسی وخت راغی چې زه او حنا او زرمینه به له پلار او زونډی ګل ماما سره د غرونو لمنو ته تلو او رمه به مو پیبله اوس نو موږ هم د زوانۍ مرحلی ته نیږدی شوي وو . یو سحر چی په لومړي ځل لپاره د پلار او زونډی ګل سره د غرونو لمنو ته تلو د شپی می خاله دوی زونډی ګل ماما هم موږ کره وو د تلو په وخت کی مو تیاری ونیوه انا او خاله مي راته وویل " ګوره حیماده چی له پلاره او رمو لری لاړ نشی چی ورک به شی او چی ستړی کیدی نو دمه هم کوۍ ما ورسره خه وکړه او روان شو دا ورځ نو موسم هم په طبع جوړ وو . خایسته ورځ وه هوا یخه وه ما او زرمینی او حنا یوه یوه لختته له زانه سره واخیسته او د رمو شاته روان شو زه له کلی ولسوالی ته تلیی وم خو د غرونو لمنو ته نه وم تلی نو ځکه خو ټول ډیر

خوشحاله وو ورو ورو روان وو لاره کی خایسته شنه د غنمو فصلونه وو دواړو خواوو ته یوې خوا د ویالی په غاړه سپین ګلونه هم وو چی موږ به د هیلي ګلونه بلل دا به چا کرلی نه وو خو خپله به راشنه شوی وو . همداسی ورو ورو روان وو او د ښکلو منظرو ننداره مو کوله . دا مو لومړی ځل وو چی داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خکلی طبیعت مو کته کله چی د کوز کلی له کوڅو ووتو نو مخامخ یو شین او له ونو پټ غر راخکاره شو . پلار می راغږ کړ " سنگه سترړی شوی خو به نه یی " موږ دری واړو یوبل ته لاسونه ورکړی وو په گډه موږوویل " نه " بیا می پلار زوندی گل ماما ته وویل " زه نو یو شپیلی خو وغږوه " زوندی گل ماما شپیلی له کڅوړی راوویسته او شپیلی یی شروع کړه ډیره خوندوره شپیلۍ یی وهله موږ ډیر خوشحاله وو یخ باد لگیده مخی ته یوه غونډۍ راغله د هغی لاندی کیناستو ځمکه تړوله په وښو شنه وه پاس اسمان وریځو پوخلی وو تول سره کیناستو . موږ شنو وښو کی منډی وهلی . د لږي دمي وروسته بیا روان شو د نیم ساعت مزل وروسته مخامخ یو لوي سیند راخکاره شو خایسته رڼی اوبه یی درلودی پلار به موږ ته ددی سیند ډیر صفت کوو خو تر دې دمه مو په سترگو نه وو لیدلی .کله چې سیند ته نیژدی شو یو خایسته پول مو ولیده چی پری جوړ شوی وو پول باندی یو شیبه ودریدو ننداره مو وکړه لاندی د سیند اوبه په درز کی روانی وی حنا وویل " سومره خوند کوی سه خایسته سپینی اوبه دی پلاره دا اوبه له کومه راځی “ زوندی گل ماما وویل " دا د هاغه مخامخ واورین غره نه راځی لار کی ورسره یو سو خوړونه یو ځایی شوی او دا وړوکی سیند یی جوړ کړی “ موږ ورته هیران هیران کتل حنا بیا وویل " حیماده سومره خوند کئ دا ځایونه نور به هره ورځ دلته راځو " ما وویل " انشاءالله هلته مو کلی کی نور زړونه سم تنگ وو ایله می زړه دلته ازاد شو " زرمینه چی د یو سپین مالوچی گلونو سره ولاړه وه راغږ یی کړل " هي دا وگوری دا گلونه چی پو کړی نو هوا ته الوزی  په منډه ورغلو سو گلان مو تری راوشکول په لاره کی مو پو کول او یخ باد هوا ته پورته کول . موږ همدلته د سیند په غاړه لوبی کولی پلار دوی می رمه اوبه کوله شیبه وروسته له دې ځایه هم تیر شو لږ مخکی لاړو د غرونو لمنو ته راورسیدو نورو خلکو هم خپلی رمی د پیلو لپاره راوستی وی . د ورځی دولس بجی شوی د لوږې احساس مو وکړ تول سره گډ کیناستو پلار او ماما می له کڅوړی خواړه راوویسته او په گډه مو ډوډۍ وخوړه رمه خپل ځایي کی څریدله پاس مو غره ته کتل د غره په سر سپینی واوری پرتی وی . ماما می بیا شپیلی راوویسته او ویغږوله بیا می پلار راغږ کړ " راشی تاسو یي هم وغږوی “ زه خوشحاله شوم له ماما می شپیلی واخیسته حنا او زرمینی راکتل په شپیلی می خوله کیخوده چی پوکی می شروع کړ تر سو چي له شپیلی غږ وته زما ساه لنډه شوه او پخ می وهل تولو خه راپوری وخندل . بیا می زرمینی ته ورکړه هغی هم زما غوندی ساه پکی لنډه شوه او بیا حنا شپیلک واخیسته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زموږ ددواړو په پرتله یو سه خه وه پلار می موږ ته وویل " ګوره تاسو نه حنا تکړه ده " زونډی ګل ماما وویل " تکړه به نه وی چی زما لور ده پلار یی هم شپیلۍ وهلو کی تکړه دی " خی ټوکی مو سره وکړی خواکی مو یوه د اوبو چینه وه هلته ورغلو اودسونه مو وکړل او په لمانځه ودریدو له لمونځ وروسته بیا سره کیناستو پلار می له کڅوړی ترموز چایی او پیالی راوویستل او چایی ته کیناستو خایسته شین چمن وو زموږ شاته نزدی شین په ونو پټ غر وو آسمان هم وریځ وو خایسته تازه هوا لګیدله تر دوه نیمو بجو پوری ناست وو بیا زونډی ګل ماما می پلار ته وویل " که ستا خوخه وی نو دا ماشومان به هلته جنغوزو او غوزانو ونو ته بوځم یو سه به له زانه سره راوشکوو دلته به یی هم راوړو ددوی به سات هم تیر شي .ته د رموخیال کوه چی لری درنه لاړی نشی " پلار می پدی خبره خوشحاله شو او وویل " په سترګو ولی نه ځی الله مو مل شه خو په دوی پام کوه " موږ هم خوشحاله شو یو بل ته مو له خوخیو لاسونه ورکړل او ماما پسی ورروان شو د یو سه مزل وروسته د غره بیخ ته ورسیدو چی قسم قسم ونی پکی وی ماما می چارمغزو یوه ونه په نښنه کړه موږ یی یوی خوا کینولو ماما می ونی ته نشو ختلی خو په یو څو ګوزارونو سره یی ډیر چارمغز راوغورځول موږ یو یو راټولوو پوره یوه لمنه مو تری ډکه کړه او بیرته روان شو ماما می غوزان خلته کی واچول د رمو ځای ته راغلو کیناستو تیږې مو پیدا کړی او غوزان ماتول مو پري شروع کړل . زرمینی به چی چارمغز په تیږي وهه نو هغه به خوی شو او لری به تری لاړ دا یی دریم وار وو چی همداسی ورسره کیدل اخیر ورته حنا مات کړل خه په خوند مو سره وخوړل د غرمی دری نیمی بجی شوی او رمه مو د کور په طرف روانه کړه د لمر لویدو سره کورته راورسیدو حنا خپل کورته او موږ خپل کورته راغلو . تر ماسخوتنه مو د چکر په اړه خبری کولی . همداسی وختونه تیریدل پس له دی به هره ورځ له پلار سره تلو حتا دومره آموخته شو چی کله کله به مو پلار ته هم دمه ورکوله سهیل او حنا به خپل پلار ته هم دمه ورکوله موږ به یوازی رمه د شنه غره لمن ته بوتلله په لاره به مو شپیلۍ غږوله دوخت سره سره زما په زړه کی د حنا د میني خوږ درد حس شو او د حنا په نه لیدو به نارامه وم د حنا به هم یادیدم خو ډیر به یی راته نه کتل شرمیده به ځکه زموږ د زلمیتوب نوی پړاوو شروع کیدو کی وو د پلار په ګیره کی می سپین ویخته پیدا شول یوه ورځ چی زه د حنا په تمه وم هماغه د شین سیوری لاندی می ټال کی زانګل که سه هم چی لویان وو خو خویونه مو همغسی د ماشومتوب کول خایسته اسمان وریځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جن وو یخ باد لګیده حنا راخکاره شوه په لاس کی یی د شړشمو ګل نیولی وو کله یی چی زه ولیدم نو مسکی شوه او رامنډه یی کړه نیږدی راغله سلام یی واچوو او وویل " حیماد جانه خور دی سه شوه هغه نه خکاری " کله چې ما د حیماد جانه کلیمه واوریده نو بل ډول راته خکاره شوه لږ حیا جانی شوم ځکه دا لومړی ځل وو چی حنا راته داسی الفاظ استعمال کړل خو زما په زړه کی یي مینه نوره هم زیاته کړه . حنا لاس کی د شړشمو ګل اړوو راړو هخوا دیخوا یی کتل ما ورته وویل " حنا راځه زما ټال بس شو ته پکی کینه " حنا راوکتل مسکی شوه کله چی زه له ټال نه رابښکته شوم حنا راته وویل " حیماده هه دا ګل واخله دا ستا لپاره " زه حیران شوم حنا د شړشمو ګل راکړ او سر یی ښکته کړ بیا یی راته وویل " هغه حیماده ما ویل هغه " زما یی زړه راتنګ کړ ما حنا ته وویل " اوف خدایه دا تاباندی نن سه شوی هغه دغه کوی او خبره نه کوی " حنا راته وکتل بیا یی سترګی ښکته کړی او راته یی وویل " حیماده نن زه غواړم چې تاته د خپل زړه یو راز ووایم داسی راز چی مخکی می درته نه وو ویلی هغه دا چی حیماده ته پوهیګی زه چی اوس تا ونه ګورم زړه می نا ارامه وی چی ستا خبری وانه ورم تبیعت می خراب وی چی زه کله تاته ګورم نو زړه می د ارامۍ احساس کوی نه پوهیګم چی دا ولی هر وخت می دیر سوچونو کی رالویدلی یی د شپې سپوږمي کی راته ستا انځور مخی مخی ته کیږی . نه پوهیګم چی دا ولی آیا ته هم همداسی یی؟,.ما چی کله د حنا دا خبری واوریدلی زړه می په ټوپونو شو ورته می وویل " حنا جانی لکه سنګه چی ته ما ونه ګوری نا رامه یی نو داسی چی زه هم تا ونه ګورم زړه می تنګ وی هر ګل کی راته ته خکاری هر ځایی کی راته ته یادیږی نه پوهیګم حنا چی دا ولی "

ما دا خبری وکړی حنا په کړس کړس وخندل ښه داسی چی ده نو ته هم همداسی یی بیا خو نو حقیقت داسی دی چی شاید زه له تا او تا له ما سره مینه لری " ما هم وخندل ومی ویل " خه نو دومره ژر دی تری مطلب واخیسته .مړه ما هم همدا زړه کی وو خو تاته می کله ویلی شو خو خه ده چی ته راته خپله خدای ګویا کړی " حنا وویل " مړه ما هم غوښتل چی مخکی می درته ویلی وو خو زړه می بی جرءته وو ما ویل چی هسی نه ته زما زړه مات کړی او زما مینه قبوله نه کړی خو اوس ډیره خوشحاله شوم چی تا هم ددی ورځی انتظار کوو . خو یوه خبره درته کوم حیماد جانه چی ما به یوازی نه پریدی کنه زه به مړه شم " ما وویل " نه ګرانی زما درسره وعده ده چی زه به نه بی وفا کیګم خو چی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی وفا نه شی,, حنا راته وکتل مسکۍ شوه " نه خدایی دی نه کړی , له دې وروسته مو زړونو کی یو بل ته ځایی پیدا شو زرمینه هم پر موږ یو سه پوهه شوي وه خو سه یی نه ویل .

وختونه تیریدل لکه سنګه چی مخکی زونډی ګل ماما له خپله ژونده ناراضه وو او کله کله به یی ویل " زه نوره دا رمه خرسوم او پاکستان ته ځم او هلته به له ورونو سره فابریکه کی کار کوم له دی کاره نور سه نه جوړیګی سر می پکی سپین شو خو د نیستی رنګ ورک نشو ' کله کله به چی ولسوالی ته لاړ نو له هغی ځایه به یی ورونو ته زنګ وهه او د هغوی احوال به یی اخیسته په دی سو ورځو کی زونډی ګل ماما یو سه مریض وو رمی یی نشوی بوتلی او خپله لور او زوي باندی یی هم نه لوریده چی رمی دي وسروی خو زړه یی دی کارنه ډیر تنګ شوي وو له ځانه سره یی کلک هوډ وکړ چې نور له دی کاره لاس واخلی نو د مشوری لپاره زما پلار ته راغی پلار می ورته وویل " که په دی ډاډمن یی چی ورونه دی درته پیښور کی ښه کار پیدا کولی شی چی هم د کور لګښت پوره کړی او هم د کو کرایه ورکړی نو بیا له دی رمو سه نه جوړیګی او پیښور ته لاړ شه ماما می وویل " که خدای کول لخیره اول به له کاره خه ځان ډاډه کوم چی یو میاشت می هلته کار وکړ که خه وو نو بیا به دکور درک هم هلته وکړم او بیا به په خیر ځم لخیره او چی لاړم بیا نو تا هم ځان سره پیښور ته راولم تاته به هم کار پیدا کړم " پلار می پدی خبره ډیر خوشحاله شو . داچی زما مور او خاله هم له دی رمو لوشلو او داسی نورو کارونو نه تنګ وو نو هغوی هم همداسی مشوره ورکړه . زه له یوا خوا خوشحاله وم خو له بلی خوا خفه شوم چی زه به له اوږد بیلتون سره مخ شم او په دی به خوشحاله شوم چی زونډی ګل ماما ویل چی تاسو ته به هم هلته پیښور کې د کور او د کار درک وکړم .لکه سنګه چی زه هم خوشحاله او هم خفه وم نو همداسی حنا هم وه یو سحار زونډی ګل ماما ولسوالي ته د تلو اراده وکړه تر سو خپلو ورونو ته زنګ ووهی او ورسره هم دا خبره شریکه کړی او د کار غم ورته وخوری .

دا چی زموږ کلی کی ساده ګی وه که څه هم موبیل ډیرو خلکو سره وو خو زموږ کلی د کوچانو کلی وو چی د زنګ لپاره به هم ولسوالۍ ته تلو یو د موبیل نه اخیستلو علت دا هم وو چی دلته کلی کی پری سوک نه پوهیدل کله چی ولسوالی ته زونډی ګل ماما لاړه خپلو ورونو ته یی زنګ ووهه او خپل مشر ورور سره خبره شریکه کړه . هغوی هم پری خوشحاله شول او ورته یی ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو چی " دا خو به ډیر خه کار وشی پریده چی نور سره یو ځایی ژوند وکړو که خیر وو زه درته کار لخیره همدی فابریکه کی کوم کومه فابریکه کی چی موږ کار کوو همدی کی درته کار پیدا کوم خو دا کار به یوه هفته وخت ونیسی راروانی دوشنبی پوري به مې درته کار پیدا کړی وی بیا ولسوالی ته راشه چی زنګ درته ووهم " ماما می ورسره ومنله او خوشحاله کورته راغی ټولو ته یی احوال ورکړ اوس نو ماما می خپل ځان په خیالونو کی پیښور کی لیده چی یوه فابریکه کی کار کوی او نغدي نغدي تنخوا اخلي . هفته وروسته می ماما بیا ولسوالي ته لاړ زنګ یی ورته ووهه . کله چی ماما می بیرته له ولسوالی نه کورته راتله نو خوشحاله وو یو سه میوه یی هم له ځانه سره راخیستی وه چی ورور یی ورته کار پیدا کړی وو د هغوی په فابریکه کی .ماما می خاله او او بچی یی زما په پلار وسپارل او د پیښور په لور یی سحر وختی حرکت وکړ . پلار مې د ماما سره وختی خدای په امانی وکړه حنا دوی هم سحر چایی موږ کره راوړه په ګډه مو چایی وسکه او رمه مو بیا روانه کړه لاره کی راته حنا وویل " پلار ته می خپلی سپارښتنی وکړی ډیر شیان به راته راوړی ستا لپاره به هم یو سه راوړی ډیر تېنګار می ورته وکړ " ما وویل " حنا چی تاته یی سه راوړل داسی لکه ماته یی چی هر سه راوړل ـ حنا مسکۍ شوه همداسی کلار کلار د غره لمنی ته ورسیدو . پدی ورځ راسره زرمینه هم نه وه هغه لږه ناروغه وه . همداسی مو چمن کی ډډه وهلی وه حنا راته ایشاره وکړه زه پری پوه شوم .
پلارته مي وويل " پلاره موږ به د چینی پلو لاړ شو " پلار می ایجازت راکړ زه او حنا په خبرو خبرو د چین په لور روان شو حنا راته وویل ' ګرانه سومره خوند به وکړی چې هلته پیښور ته لاړ شو او تاسو هم راشی ډیر خوند به وکړی هلته به زما ملګری نوری هم ډیری شی د کاکا لورګانی می پلار می ویل هغوی مکتب هم وای " ما حنا ته وکتل حنا مسکۍ شوه او زما لاس یی ونیوه ما ورته وویل " حنا زه نه پوهیګم پدی کار کی ماته خیر نه ښکاری . زړه کی می ډیری خبری اوړی یو خو دا چی زه چی تا یوه ورځ ونه ګورم حالت می سم نه وی نو که ته پیښور ته لاړه شی نو زه به سه کوم بله دا چی هسی نه چې خدای مه کړه هلته تا له لاسه ورکړم او کومه بله پیښه ونه شی " حنا راته وویل " هو ګرانه بیلتون ته خو زما پام نه وو اه سومره سخته ورځ به وی چی له تا جدا کیګم خو خفه کیګه مه پلار می ستا پلار ته هم کار پیدا کوی تاسو به هم بیا لخیره ژر راشی " موږ چینی ته راورسیدو دواړه په شنه چمن کیناستو مخی ته مو د چینی رڼی اوبه روانی وی شمال لګیده د حنا ویښته یی شیندل په ګڼو ونو کی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چینچړو شور ماشور وو .د حنا څیره غمژنه شوه په معصومه څیره یی راوکتل او راته یی وویل " حیماده دی خبری ته خو زما زړه ډیر خفه شو چی دا بیلتون خو به ما د خزان د پاڼو په شان ورژوی خو یوه خبره می دا واوره چی زما لخوه بیخي زړه ډاډه کړه ځکه ته زما روح یی ته زما ځان یی بی له تا زه هیڅ نه یم خو یو سوال درته کوم ګرانه هسی نه چی ته ما هیره کړی هیله کوم ګرانه چی ما له یاده ونه باسی " حنا دا خبری کولی او له سترګو یی اوښکی روانی شوي . ما وروکتل حنا زما په اوږه سر کیخود ورته می وویل " هئ هئ سه د خوښئ ژوند دی پدی ساده ګئ کی . خایسته شین طبیعت خکلی تازه هوا یخی رڼی سپینی اوبه د کلی د کوڅو شور ماشور د ارام او سکون ژوند او زه خو نه پوهیګم چی حنا ستا د پلار زړه ولی له دی هر سه تنګ شو خیر که له دی رمو یی زړه تنګ وی تو ملامت نه دی خو دومره لری به نه تله همدلته به مو زما پلار سره ولسوالی کی کار پیدا کړی وو کنه " حنا له خولی سوړ اسویلی ووته او ویویل " حیماده که رختیا درته ووایم نو زما هم له دی خکلی ځایه زړه نه کیګی چې لاړ شو ځکه د غه کلی کی زما خاپوړی شوی دلته مي خبری زده کړی . دلته زما د شپې د اسمان ستوری پیدا شو چی حیماده اوس هغه ستوری ته یې هاغه ستوری کی راته اوس ته خکاری کوم چی ماته انا خوښ کړی وو او ویل به یی " هاغه ستوری ستا شو ځکه د شپی د ستوری اسمان د ماشومانو ډیر خوښ وی او ځلیدونکو ستوری ته حیران وی د الله ج دی ستر قدرت ته په فکر کی شی چی دا څومره یو عجیبه نظام دی . " دا کلی زما ژوند او کور دی پوهیګم چی له دی ځایه هلته د پیښور تنګو کوڅو ته لاړ شو نو ډیر به می زړه نا ارامه وی چی تر سو ستاسو کور راځی خو سه وکړم .کاش چی زما خبره چا منلی دا هر سه می د پلار خوښه ده خو چی د پلار ستړی څیری ته په ماښام وخت کي وګورم زړه می قطری قطری شی چی خدایه اخیر به می دا پلار جان کله ارامه او د دمي ژوند کوی همدغه وجه ده چی کله خوشحاله شم چی پیښور کی به د خوښی او ارمتیا ژوند وکړو " ما وویل " بس چی سه کی زموږ خیر وی په خاصه توګه زما او ستا هغه دی خدای وکړی راځه چی اوبه وسکو لږ به د چینی په رڼو اوبو کی وګرځو راځه لاس دی راکړه چی ونه لویګی " دواړه اوبو ته راښکته شو د اوبو لاندی وړی او رنګه رنګه تیږی ځلیدلي مخ ته مو څو لپی اویه واچولي . بیا حنا راباندی د اوبو داری وکړی له ما یی سلګی وویستی منډه می کړه له چیني ووتلم حنا خندا شنه کړی وه راته یی وویل " وی ګرانه سومره ډار ن یي دومره له اوبو ډاریګی یخی خو هم ندی " زه د حنا شاته راتاو شوم د چینو اوبو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راښکته شوم حنا راباندی بیا داری شروع کړی ورته مي وويل " خه نو اوس سبر وکړه چی ونه تبنتی " بیا ما هم پری اوبه واچولی اوبه یخی وی حنا چغه کړه " ننه نه بس توبه نور یی نه کوم !! " لږه شیبه وروسته په خندا او ټوکو سره د پلار ځای ته راغلو ځانونه مو یو سه لامده کړی وو پلار می وويل " دا ولی لکه چې په چینه کی مو غوپه وهلی که سنګه داسی لامده یی " موږ په ګډه وخندل حنا می پلار ته وويل " حیماد لږ ښوی شو ښویدو سره یی په ما هم اوبه راغلی " همداسی په خوښی ژوند دوام درلوده تر دی چی زونډی ګل ماما یوه میاشت وروسته بیرته راغی خو دې تګ لږ یو سه ظاهری بدل کړی وو رنګ یی تر او تازه شوی وو د کلی خړ ګردونه یی له بدن نه لری شوی وو . ډیر زیات خوشحاله بریښیده . هلته یی کار خه وه ټول شپږ ساعته کار وو هغه هم اسانه کار او د میاشتی یی شل زره کالداری ورکولی چی دلته یی په دریو میاشتو کی هم نشوی ګټلی هغه هم په سختی .ددی تګ سره یی یو سه اخلاقو کی هم تغیر راغلی وو خویونه یی هم لږ سه بدل شوی وو د کبر سادر یی اغوستی وو موږ ټول یی ستړي مشی ته ورغلو پلار ته مې د خبرو وار نه ورکوو بس د پیښور کیسی یی کولی او ویل به یی زما پلار ته " مړه دا سه ژوند دی ژوند خو هلته وو چی ایله می ځمکه او اسمان و پیژندل . د هر سه پریمانی وه نوی نوی شیان می ولیدل چې وس یی رانه نومونه هم هیر دی خو عجیبه عجیبه کارونه می ولیدل "

بس همداسی کیسی می زونډی ګل ماما کولی او پلار می ورته د خولی خوند تازه کوو خاله می د ماما د پیښور راوړی میوه موږ ته په کاپونو کی کیخوده . حنا زموږ سره ناسته وه عظمه زرمینی سره غیږ کی وه . خاله می چای د وچی میوی سره راوړه پیالی ډکی شوی حنا ماته پیاله مخکی کیخوده . پلار می وويل " خا زونډی ګله سنګه کار دی خوخ شو کنه له دی وروسته دی اراده سه ده حالات به دی خه معلوم کړی وی "

زونډی ګل ماما ستونی تازه کړ او ویویل " لخیره که خدای کول کار ډیر خه او اسانه دی دواړه ورونه هم راسره وو صرف شپږ ساعته کار وو نور نو وزګار به وم او تنخوا یی شل زره کالداری ده چی ما او تا غوندی سړی یی دلته په دریو میاشتو کی هم نشی پیدا کولی که خدای کول د کور بندوبست می هم وکړ هلته کرایه یی سلور زره کلداری ده خایسته غونډ مونډ کور وو او هغه هم ټول فرش وو دری وړی کوټی او یوه برنډه او اشپزخانه یی درلوده . لخیره چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سومره ژر کیدل بس ځان برابروو او له دې ځایه لخیره نور ځو دلته خو مو زړه وچاودیدو که خدای کول چی زموږ هر سه هلته په ځای شو نو بیا تاته هم کور او کار هلته پیدا کوم او تاسو هم هلته راولم ځکه ته خو زما کلک آشنا یی تانه خو زه نشم بیلیدلی پلار مې وخندل او ویویل " خه نو دومره ژر لخیره ځی . خو چی ستا سو کډی مډی پر ځای شوی بیا زما غم هم وخوره ځکه ته چی لاړی بیا نو ماته هم دا ځای خوند نه راکوی بله دا چی زه هم له دی رمو تنگ شوی یم " زونډی گل ماما مي وویل " ولی نه انشاء الله " خاله او مور می هم خپلی خبری شریکی کړی ټول ډیر خوشحاله وو خو زما زړه بیا سم اطمینان نه کوو . خو خیر هفته وروسته زونډی گل ماما .ټولی رمی خرسی کړی چي پډی پیسو یی غوښتل د پیښور ته د گډی وړلو مسرف پری وکړی او همدا راز پیښور کې هم ځانته یوسه گوزاره پری وکړی او یا هم یو وړوکی کاروبار پری بعد له ماسپښینه روان کړی . کلی کی هم د زونډی گل ماما د کور د تلو خبره خپره شوه خلکو پري ډول ډول بحث کوو . زونډی گل ماما دتلو لپاره د شنبې ورځ وټاکله . نو کلیوالو هم خپل غیرت خکاره او پښتنی رواج راځرگند کړ ټولو ورته ډوډی وکړه . دی وختونو کی نو په زونډی گل وار نه وو .

خو یوه ورځ چی په سبا د زونډی گل ماما کډه تله نو بیگاه ته زموږ میلمانه وو زونډی گل ماما مخکی له مخکی د کلیوالو په مرسته یوه غټ موټر کی کډه وتړله تر سو سحر وختی روان شی . د مازیگر وخت وو خاله هم موه کره وه آنا می هم راغلی وه نور د کلی یو څو ښځی هم راغلی وی سړي بهر د کور مخی ته په کټونو کی ناست وو .ما د چای پیالی ډکولی له چایو وروسته می پلار او زونډي گل مامادوی جومات ته لاړل . حنا زه او زرمینه او سهیل موږ ټول د پلار په اجازت د کلی د چکر لپاره روان شو چی دا غوښتنه د حنا وه ځکه دا یی وروستی دیدن وو د کلی سره . لمر خپلی وروستی ژیړی وړانگی شیندلی .اول خپل د شفتلو او شړشمو پټي ته لاړو ټول سره کیناستو سهیل مو دوکان ته د یو سه خوراکی شیانو پسی ولیږه . شیبه وروسته هغه هم راغی چپس پی اخیستی وو او په خوړلو مو پیل وکړ حنا سترگی ډکی ډکې کیدی ماته یی سترگو لاندی غلی غلی کتل خو سه یی نشو ویلی ځکه زرمینه او سهیل هم ناست ول اخیر دا خاموشی ما ماته کړه په داسی حال کی چی دواړه لاسونه مې شاته اډانه کړل ومی ویل " هئ حنا چی بیا به ته خپل کلی گوری نو یقین می نه راځی اوس یی خه دیدن وکړه " زرمینی وویل " موږ به د حنا دیدن کوو ځکه دا هم رانه ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیر موږ په سه کوو دا یوازیتوب خو به موږ ته غټه صدمه ورسوی " سهیل
وویل " هو ولا زما به هم تاسو ډیر یادیګئ ځکه ماته مو تر ننه ناز راکړی "
حنا هخوا د یخوا سترګې واړولی بیا یی راوکتل له سترګو یې غټی غټی اوښکی
لاړی او ویویل " تاسو څومره خواږه یی زه خو به تاسو پسی هلته لیونی شم ما
خو دروغ ګڼل خو دا هر سه په چټکئ سره رختیا شول "ما وویل " زرمینی بیا
به ما او ته دلته راځو نه به حنا وی نه به یی ټوکی وی او نه به سهیل جان وی
زرمینی وویل " بیا به مو انا راشی موږ ته به کیسی کوی خو څنګ کی به مو حنا
او سهیل نه وی " دی خبرو سره مو نو زړونه کلک نه شو کړای او له سترګو مو
او اوښکی روانی شوی . حنا وویل " تاسو خو به بیا هم د انا خوږی کیسی اورئ
خپل د اسمان ستوری ته به ګورې خو زه به سه کوم ماته به داسی کیسی سوک
کوی زه بیا چاته وایم چی هاغه مي د اسمان ستوری دی وګوری ورته . یوازی به
ستاسو ستوری وینم خو تاسو به نه یی " دی خبری سره حنا وژړل . زموږ له
سترګو هم اوښکی روانی شوی . له هغه ځایه سیده خپل د لوبو ځای ته لاړو چرته
چې مو ټال وو زرمینی وویل " حنا ګرانی دلته خو راته یوه نښه پریده " حنا یوه
تیره تیږه راواخیسته او د ټال تر څنګ د لختی په غاړه چی یو د چنارو ونه وه د
هغه په سپین ډډ یی یو خکلی زړه رسم کړ او ویویل " حنا دا زما نښه شوه تاسو
سره . دې ته به ګوری نو زه به دریادیګم " . ما او زرمینی د حنا رسم کړی زړه
ښکل کړ حنا غمژنه مسکا وکړه . ما وویل " حنا ته ټال کی کینه چی نن درته زه او
حنا په ګډه جوټی درکړو که سه هم چی نور کله به مو پری جنجال کوو " حنا ټال
کی کیناسته شل جوټی مو ورکړی بها سهیل مو ټال کی کینوو دومره تیزی جوټی
مو ورکړی چی سمی چفی مو تري وویستی . سهیل چغی کړی " وه ظالمانو بس
کړئ په دی اخیر کی می کار مه خرابوی بس کړی " ټولو ورپوری خه وخندل .
څو شیبې وروسته زموږ د ګاونډ یو ماشوم راغی او ویویل " هي زرمینی او سهیل
مور مو درته غږ کوو وی راشی " زرمینی دوی لاړل ما او حنا ورته وویل چی
موږ لږ وروسته درځو کله چی هغوی لاړل حنا وویل " حیماد جانه اوس نو ته ټال
کی کینه بیا به تاته دټال د جوټو در کولو ارمانی یم " زه هم ټال کی کیناستم جوټی
یی راکړی د حنا زړه بیا راډک شو زه هم له ټاله نه ښکته شوم ورته می وویل "
حنا هیله کوم مه ژاړه که سه هم داسی حالت د زغملو ندی خو خیر ارامه وسه
لیونی خو بیا موږ هم درځو بیا به سره یوځای شو . ګوره بس نو هله سترګی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکی کړه ګوره بیا ماته هم ژړا راځی هله بس نو ،، د حنا سر می پورته کړ په بادامی سترګو کی یی د مرغلرو په څیر اوښکي رونیدی.

د شپی تول موږ کره وو ډوډی وخوړل شوه ډیری خبری مو سره وکړی پلار می ورته ټینګار کوو . چی ګوره زونډی ګله هسې نه چی د پیښور مزی درنه موږ هیر کړی . چی سنګه لاړی زموږ غم هم وخوره او یو کار راته پیدا کړه " . زونډی ګل ماما می وعدی کولی مور می زوندی ګل ماما ته وویل " رختیا بیا هم پته نه لګی چی بیا به کله سره ګورو خو پام چی حنا درنه بل سوک وانه خلی دا می لخیره د حیماد زوی ده " خاله می هم مسکۍ شوه او مور سره می موفقه وه حنا ماته وکتل لږه مسکۍ شوه وشرمیده سترګی ټیټی کړی زونډی ګل ماما هم د هو په دود سر وخوروو . خو نور یی سه ونه ویل . شپه تیره شوه خو ماته سم خوب رانغي د مور هغه خبری ته ډیر خوشحال وم چی ویل حنا د حیماد ده . کله چی سحر شو مور وختی چاۍ تیار کړی وو چای وسکل شو خدای په اماني مو شروع کړه ټولو له سترګو اوښکی روانی وی زما زړه هم صبر نه کوو ژړل می تول حویلی کی ولاړ وو او له سترګو یی اوښکی روانی وی زه له درده بهر نشوم تلۍ حنا کوټی ته راغله لاس کی یی دسمال نیولی وو راته یی ونیوه او ژړا کی یی راته وویل " ګرانه هیله کوم ته مه ژاړه ستا ژړا زما درد دوه چنده کوی . هه دا دلاس نښه واخله هیله کوم په ډیر سه یی قبول کړه ماسره پرته له دی دسماله نور سه نوو چی درکړی می وو خو ته د زرو لایق یي " ما وویل " نه ګرانی ستا د لاس چی هر سه وی زما خوښ دی زه به ستا ددی دسمال داسی خیال ساتم لکه د ځان خیال چی ساتم ګرانی که ته لاړه شی زه به ستا پر ځای ددی د سمال سره خبری کوم " بیا می له جیبه یو دسمال راوښکه حنا ته مي ورکړ او ورته مي وویل " ګرانی ته د سرو لایقه یې خو دا قبول کړه ,, حنا په مینه رانه دسمال واخیسته زړه پوری یی کلک ونیوه ښکل یی کړ بیا یی وویل " دا دسمال به زما زړه دومره ارامه ساتی لکه ته چی زما زړه ته سومره آرامی او سکون رابښی "

بیا خاله هم راغله ښکل یی کړم راته یی وویل " ګرانه حیماد جانه ما وبښه که کومه بده خبره می درسره کړی وی . ته زما شیرین خورهی یی زما د زړه ټوټه یی بس نو مه ژاړه رختیا ګرانه زه تاته یوه تحفه له اوسه ډالۍ کوم چی هغه حنا ده هغه تاته درکوم او هغه به ستا وی انشاالله " ما هیڅ ونه ویل په زړه کی می ګوړی ماتولی . تول بهر ووتلو یو سه کلیوال هم ولاړ ول حنا دوی موټر ته وختل



لیکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زونډی ګل ماما هم پاس د کډی په سر موټر ته وختله . مور می له دروازی راکتل نور د کلی ماشومان هم ننداریِ ته ولاړ وو زه او زرمينه هم يوه څنګ ته ولاړ وو .موټروان د خير دعا وکړه او روان شو . شيبه وروسته موټر زموږ له سترګو د کوز کلی کورونو پناه کړ زما له سترګو اوښنکی روانی وی داسی احساس می کوو لکه ټول جهان کی چی يک تنها شوم جهان راته بی خونده او پيکه خکاريده .
داسی درد ما په لومړی ځل احساس کړ خو دا داسی درد وو چی زه يی په چغو کولم . د سحر د لمر ځرک ولګيده زه هماغسی د کور مخی ته ناست وم . کور راته خوند نه راکوو شيبه وروسته مې پلار راغی د لاسا يی کړم او کورته يی ننويستم مور می راته چای راوړه خو زړه می داسی بند وو لکه هيڅ چی زه کوم خواړو ته ضرورت نلرم . د مور په ډير ټينګار سره می نيمه پياله چای په زوره وسکه په کور کی خاموشی وه مور می تسليت ما او خور ته راکوو چی موږ به هم هلته ورشو او داسی نوري د تسليت خبری يی راته هم وکړی . خو زما له خولي هيس نه وتل پلار می رمه وويسته مور می راته وويل " ځه زويه لاړ شه کوټه کی ويده شه چی بيګاه هم تر ناوخته ويښ وی او تبيعت به دی هم ښه شی پلار دی هسي هم لاړ “ زه کوټی ته لاړم په بالخت می سر ولګوو داسي د بې وسۍ او يوازيتوب احساس راته کيده لکه چی نړی کی يواځی زه اوسم ، چاپيريال ټول خاموش وو خو د حويلی د توت په ونه کی يوی يوی مرغۍ به چغه وکړه . خور می هم کوټی ته راغله هغه هم ويده شوه . تر لس د قيقو پوری می سوچونه کول چی حنا به اوس چيرته رسيدلی وی اوس به هم ژاړی که نه به ژاړی همدی سوچونو کې وم چې د خوب پريښتو راباندی وزرونه خواره کړل . خوب می وليد چی
' " ' حنا او زه په يوه باغچه کی يو او هری خواته مو خايسته ګلابونه يی حنا لری راروانه وی او خاندی کله چی رانيږدی شی زه ورته ووايم حنا ستړي مه شي دومره ژر راغلی حنا راته وای هو ګرانه يوه خبره رانه هيره وه هغه درته کوم هغه دا وه چی کله دی پلار پيښورته زموږ ځای ته راتله نو ته يوه خپله د لاس نښه هم راوليګه چی زه يی تری واخلم بيا به دی پلار ته هم زه ستا لپاره يوه نښه ورکړم . حنا دا خبری وکړی او بيرته رانه روانه شوه په تلو تلو کی راته ګوری او خاندی کله چی له ما لږه لري شوه نو يو دم يی پلار ورپسی راشی او له ويختو يی ونيسی په وهلو او ټکولو يی له باغچی وباسی . يو دم آسمان توره وريځ شی او د طوفان په څير هوا راشی زه حنا پسی چغی وهم خو ورتلی نشم داسی وم لکه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی تږلی یم هغه پلار په وهلو روانه کړی وی همدا چغی وهم چی " " " مور راباندی غږ کړ " بسم الله زویه حیماده جک شه خوب دی " زه چی راپاسیدم رنګ می الوتي وو خولی او ستړی وم او د حنا نوم می په خوله تکرارو مور می وویل "ولی زویه کوم بد خوب دی ولیده چی داسی چغی دی وهلی خیر ارامه وسه هسي خوب وو د سحر خوب تول شیطانی وی بس نو ناوخته دی نور دی مخ او لاس ومینځه "

زما زړه ستری ستړی کیده زړه کی می ویره له دی خوب نه پیدا شوه خو بیا می شکر وویسته چی خوب وو خو حنا مي له یاده نه وتله شیطان راته زړه کی سل او شل خبری اچولی اعوذ بالله می وویله لاړی می چپ لور ته تو کړی راپاسیدم ، د سحر لس نیمی بجی وی اودس می وکړ قرآن شریف می راواخیسته سورت یاسین می تلاوت کړ او حنا دوی ته می دعا وکړه . کوټی ته لاړم زړه می تنګ شو زرمینه هم د مور سره په کارونو کی بوختته وه . شیبه وروسته مې د پلار له بکسه رادیو راواخیسته . مور راباندی غږ وکړ " زویه بیرته یې بیا خپل ځاي کی کیده " زه کوټی ته لاړم بالخت ته می ډډه ووهله رادیو می چالانه کړه سو چینلونه می واړول دا می لومړی ځل وو چی رادیو ته می غوږ کیخوده یوه سندره پکی چالانه وه خایسته غمژني ټپی وی رادیو آواز می ورو کړ او غوږ ته می ونیوله دی سندری کی هم درد او هم سکون وو . خو زما له سترګو یی اوښکی روانی کړی د حنا د خندا او مسکه هره شیبه راته رایاده شوه ما سندری ته غوږ ایښی وو او د حنا یادونه می په زړه اوختل راوختل چی په سندری کی یی داسی ویل

" زه تری په توری تیارو پټ شوم - بیلتون ظالم په مخکی بل کړل مشالونه

بیلتونه کور دی مولا وران کړه

ستا له لاسه عاشقان سر ټکوینه

بیلتون په ما بیا نن میلمه شو -

زړه می پوښتون دی میلمه نه خفه کوینه

همداسی نوري غمژنی ټپی هم وی سندره کی خو زما سترګی یی وچیدو ته پری نه خودی . کله چی سندره خلاسه شوه یو دم راته خپل بد خوب را پیاد شو زړه کی می بیا د بد خبر شکونه پیدا شول نه پوهیدم چی ددی خوب تعبیر به سه وی خو زما په نظر تعبیر یی راته ښه نه ښکاریده . د ورځی یولس نیمی بجی شوی د مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنور خواته ورغلم زرمينه هم ناسته وه ټول غلی وو زرمينی هم سه نه ويل مور می وويل " ځئ بچو لاړشی برنډی کی کينی زه هم درځم د تنور غاړه ګرمه ده چی تپ مو ونه وهی " زه او حنا برنډې ته لاړو ياد کی می حنا راوستله چی زموږ کور په دروازه راننوځی او راته وايی راځی بهر به ټال کی وزانګو . زرمينه هم سوچ کی وه سه يی نه ويل غلی ناسته وه . خو خير ډوډی مو وخوړه د اوړی غرمه وه مور می د کلا دروازه بنده کړه او ټول په يوه کوټه کې ويده شو . مازيګر مور چاي ته راجګ کړو چاې مو وسکه او د مور په ايجازه بهر ته ووتو تر سو لوبی وکړو کله چی ما او زرمينه د لوبو ځای ته لاړو په ټال مو سترګې ولګيدی هر سه خزان خزان خکاريدل لکه يو طوفان چی پری رالوتي وی . د هيس شی خونده نه وه زرمينه په ټال کی کيناسته سر يی ښکته کړ او سوچ کی شوه ما د چينار په ډډ هغه رسم شوی زړه ته کتل کوم چی حنا د يوي نښې لپاره موږ ته رسم کړی وو . تيره ورځ هغه وه خو نن نه وه . نور می ځان تينګ نشو کړای زرمينی ماته کتل او ما زرمينی ته کتل او له سترګو مو مړی اوښکی روانی شوی . کله چی شپه شوه پلار مې وويل " زه سبا ځم ولسوالي ته چې له هغه ځای په تيليفون احوال واخلم چی زونډی ګل په خير رسيدلی او کنه " زه کټ ته وختلم هماغسی شپه وه خو سپوږمۍ يو سه زيړه معلوميده ما خپل ستورو ته وکتل خو هغه نه پړکيده هغه هم لکه زما په ځير خزان وهلی وو بيا می د حنا ستوری ته وکتل حنا رايادة شوه له سترګو می اوښکی روانی شوی خيالونو او سوچونو کی ډوب شوم چی حنا به اوس چيرته وی ؟ آيا خپل ستوری ته به ګوری کنه ؟ آيا زه به ورته ياديګم کنه ؟ همدی سوچونو له ځانه سره تر نيمی شپی ويخ کړی وم . کله چی سحر شو پلار می ولسوالی ته روان شو ما رمي بوتلي او له ځانه سره می شپيلک هم راواخيسته د لاری هغه خکلی طبيعت نه وو پاتې ی هر سه راته بی رنګه او بی خونده خکاريدل. شپيلی می شروع کړه او روان وم خه ډيره می وغږوله خوند يی راکړ د غره لمنې ته ورسيدم د حنا د ځای تشوالي راته حس شو . له ځانه سره مي وويل " حنا هر سه شته خو ته نه يی " کله چی مازيګر کورته راغلم پلار می وويل " زنګ می ورته وهلي وو ورور يی ويل چی رارسيدلی دی " زما زړه لږ يو سه ارامه شو . وخت تيريدو سره زما د مخ رنګ تغير وخوړو شونډو می پټری ونيول د زړه کمزوری می احساس کړه هر سه به می چی پورته کول د پخوا په پرتله راته درانه حسيدل . زما حالت د حنا په نشتوالی کی ورو په ورو خرابيدو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما خور زرمینه زما په غم ښه پوهیدله . بله خوا حنا چی یوه کلیواله جلی وه او ښاري ماحول سره ناشنا وه نو ډیر یی زړه تنګ وو . لکه په قفس کی چی بنده وی حیماد یی تل یادوو خاله می هم زړه تنګ وو خو کله کله به د زرمینی کانی ګانو کره تله ساعت به یی تیر وو سهیل هم چی نابلده وو نو دی ځای ورته خوند نه ورکوو . زونډی ګل بیا پکی خه خوشحاله وو خپلو ورونو سره یی کار کوو او د حیماد پلار یی له یاده وتلی وو په تیری ورځو پسی یی آرمان نه بلکی کرکه کوله . زړه یی یو سه کلک شوی وو د ورونو پشان پی غرور پیدا کړی وو . کله کله به چی حنا کره یی د کاکا لورګانی راغلی چی همزولی یی هم وی خو هغوی ډیر عصری وو حنا پوری به یی خندل . ورته به یی ویل چی دا تاسو سه ډول کالي اغوندی زاړه زاړه او سه ډول خویونه کوی په رختیا چی کوچیان یی دی خبرو سره به یی د کاکا لورګانو ټولو وخندل او حنا ته به یی دومره زور زړه ته ورکړ چی زړه کی یی د هغوی لپاره کرکه پیدا شوه . همدا راز سهیل پوری به هم د کاکا زامنو ملنډې وهلی او خاله پوری به د سهیل کانی ګانو ملنډی وهلی چی ټولو باندی یی ډیر بد تاثیر کړی وو . یوه ورځ د حنا مور زونډی ګل سره دا خبره شریکه کړه خو زونډی ګل چی ټول د ورونو په طرف وو ویویل " خیر هغوی به ټوکی کوی دا خو اول وخت دی دا خبری خو به راځی تاسو پري زړه مه خوری " خو حنا ددوی بد چلن ډیره ناکراره کړه . حنا به مخکی فکر کوو چی پیښور ته لاړه شي هلته به یی همزولی ډیری وی ساعت به یی ورسره تیر شی خو کیسه بل رقم شوه پدی به یی ډیر زړه خوړه . بل حیماد یی هم له یاده نه وته زرمینه یی یادیدله چی هر وخت به یی ژړل دوه هفتی وروسته یوه ورځ د حنا مور زونډی ګل ته وویل " هغه حیمادوی دی بیخی هیر کړی هغوی ته هم کار پیدا کړه اوس خو هسی هم زموږ کار نور جوړ دی خو زونډی ګل پری خاص سر ونه ګروو ځکه هغه اوس خپله په مزو سر وو . د حیماد پلار به هم په همدی نیت کله کله د زونډې ګل خبر اخیسته چی کار خو به یی ورته نه یی پیدا کړی خو د هغه لخوه به بیرته ناهیلی شو . وختونه تیریدل زما حالت د حنا پسی ورو په ورو خرابیدو مور به می پلار ته ویل چی " په دی هلک باندی سه وشول ورځ تیریږي او خرابیږی " خو یواځی زرمینه زما په حال پوهه وه . یوه ورځ یی زما مورته زما او د حنا په اړه هر سه وویل . مور می خوشحاله هم اوخفه هم شوه . خوشحاله پدی شوه چی زما خوښه یی خپله خوخه وه خو خفه پدی شوه چی د حنا پسی زوریږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونه تیریدل پلار می پدی ډاډه شو چی زونډی ګل په خوخیو کی ډوب دی او
موږ یې هیر کړی یو نور یې د زونډی ګل ماما نه د کوم کار تمه نلرله خو دوه
میاشتی وروسته می یوه ورځ مور می پلار ته مشوره ورکړه چې پیښور ته لاړ
شي تر څو د زونډی ګل ماما او خاله خبر راوړی چی هلته یی ژوند څنګه تیریګی
او د خپل کار په اړه بیا یادونه ورته وکړی پلار مې ورسره ومنله . زه ډیر
خوشحاله شوم لکه زه چی خپله حنا دی کره ځم داسی می روح په دی تګ تازه
شو سحر وختی می پلار تیاری ونیوه مور می یو سه سامان او غوټه ورته تیاره
کړه ما چی هغه خوب لیدلی وو په یاد می وو . زه په دی فکر کی وم چی حنا ته
تحفه سنګه ولیږم او سه ورته ولیګم زړه می نارامه وو خور می چی زما له هر
سه پټه خبره وه راغله راسره کټ کی کیناسته راته یی وویل " حیماده سه فکر
کوی چی حنا ته څه د لاس د نښې په توګه ولیږی " زه د زرمینی په دی خبره یو
سه ورخطا شوم ماته پته نه وه چی زرمینه زما په اړه پوهه ده . ما سترګی ښکته
کړی وشرمیدم. خور مې راته وکتل رما سر یی راجګ کړ او ویویل " خفه کیګه مه
زه ستا او د حنا په اړه له ماشومتوبه پوهه وم زه ستا د زړه هر راز نه خبره یم او
رختیا لکه سنګه چی ته اوس خبر شوی نو داسی چی حنا دوی کډه په کومه ورځ
له دی ځایه تله هغی ته می هم ستا په اړه هغه سه وویل کوم چی رختیا وو یعني ما
ورته وویل چی زما ورور حیماد له تاسره ډیره مینه لری بیا هغیی راباندی ډیری
سپاربښتنی وکړی او راته یی ویل چی هیله کوم زما لپاره د حیماد ډیر خیال ساته او
بیا مي حنا ته وویل چي زه به تاته دوه ګوتمی درولیګم کله می چی پلار درتله یوه
به زما لخوه درته تحفه وی او بله به د حیماد د لاس تحفه درولیګم هغه ډیره
خوشحاله وه. اوس نو حیماده ما وخته ستا د لاس نښه پلار ته په سامان کی ایخی
ده حنا به یی واخلی نور نو حیماده سوچونه مه کوه اخیر زما غوندی خور لری زه
له تاسره یم زه ستا ریباره یم " ما زرمینی ته وکتل مسکي شوم له هغی می ډیره
مننه وکړه . کله چي زرمیني زما مسکه ولیده نو غږ یی کړ " هله موري دا وګوره
وروور مي له ډیر وخت وروسته دا دی بیا وخندل " مور می راوکتل راغله زه یی
ښکل کړم ، او د خدای شکر یی وویسته . پلار می هم د چای وروستی پیاله
وسکله او ولاړ شو . مور می غوټه ورکړه او ورته یي وویل " زما مسافری خور
باندی ډیر ډیر سلامونه کوه او زما لخوه یی ډیره پښتنه وکړه موږ هم پلار سره
خدای په امانی وکړه او پلار می له کوره ووته مور می پسی اوبه وشیندلی . زه
ډیر خوشحاله وم داسی خوشحاله لکه سنګه چی مخکی د حنا سره خوشحاله وم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مازیګر وخت وو حنا په برنډه کی د مور په زنګون سر ایخی وو . حنا خپلی مورته وویل " موری مورې به کله بیا خاله ګورو کلی ته به ځو زما زړه خو نور دلته چوی " د حنا مور وویل " خدای خبر لورجانی هغه پلار دوس دی هم سترګی بدلی کړی خو څو واری می ورته وویل چی هغوی ته هم دلته کار پیدا کړی خو پلار دی داسی شو چی اوس زه د حیمادوی نوم اخلم راته غوصه کیږی وایی چی هغه د نیستی ژوند او خلک مه یادوه .لور جانی مورې دلته په لوی امید راغلی وو خو دا هر سه زمورې خلاف شو ما ویل دا کانی کانی به دی د پخوا په څیر خوږی وی لکه سنګه چی لوری کلونه وړاندي چی ته وړه وی هلته کلی کی خواږه وو ما به ویل لور جانی چی ستا به د کلی نه دلته ډیر ساعت تیر وی ځکه د کاکا لورګانی دی ډیری دی خو مورې څه خبر وو چی دوی داسی قبر او غرور او تربورولۍ کی دی چی بیخی په هوا ګرځی . کاش چی لوری هغه ماما دی ژوندی وو کوم چې لسګونه کلونه وړاندی کوټه پری راولویده او مړ شو . که هغه وی لوری نو د پلار کور خو به مو معلوم و کله کله به هلته تلو "

حنا مور دا خبری په ډیر دردناکه الفاظو سره وکړی چی حنا او مور یی دواړه په ژړا شو دی وخت کی دروازه ټک ټک شوه حنا سهیل ته غږ کړ " ورشه هله سوک دروازه ټکوی " کله چی سهیل ورووته نو حنا او مور یی له دروازې څخه د حیماد پلا چي حلیم نومیده غږ واوریده حنا له خوشحالۍ نه سترګی ډکی شوي مور یی هم خوشحاله شوه چی شیبه تیره نه وه سهیل د حیماد د پلار سره په دروازه راننوته. حنا له خوشحالی ورباندی چکلیټ وشیندل خه ګرمه له مینی ډکه ستړی مشی ټولو ورکړه . د حیماد پلار د سهیل دوی سره کوټې ته ننوته . ټول خوشحاله وو د حنا سترګی پری داسی خوږی شوی لکه د سترګو تور حیماد پی چی لیدلی وی . د حنا مور وویل " هغه خورجانه می سنګه وه زرمینه حیماد جان سنګه وو کلی کی سه حالات وو " د حیماد پلار وویل " شکر دی ټول خه وو خور دی هم پنډ پنډ سلامونه کول خوری او خورزه دی هم خه وو سلامونه یی کول هغوی د سهیل جان او حنا جانی ته ډیر ډیر سلامونه ډالۍ کول " حنا هم ناسته وه له خوشحالی نه په جامو کی نه ځایده په ډیر ناز یی د سلام جواب ورکوه . د حیماد پلار حلیم وویل "هفه زونډی ګل نه خکاری چیری تللی که سنګه " , سهیل وویل " هغه مي مشر تره کره دی شیبه وروسته به راشی " بیا حلیم وویل " خه ډیر خه هغه وړه لورکۍ مي نه خکاری عظمه چی هغه هم وګورم زما ډیره یادیده حنا وویل " ماماجانه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ مخکې ویده شوه هغه بله کوټه کې ده د حنا مور چې بهر اشپز خانې ته تلې وه حنا ته یې غږ کړل " هله لوری ماما ته دی غږ کړه چې لاس او پښې ومینځي د سفر دوړی به یې هم لري شي " حلیم د حویلی بمبي ته لاړاو حنا ورته لوټه ډکه کړه . مخ او لاسونه یې ومینځل کله چې کوټې ته لاړل د حنا مور چای تیار کړی وو ټول سره ناست وو حنا بلې کوټې ته لاړه وړه کوچنۍ خور یې را پاسوله او غیږ کې یې حلیم ماما ته راوړه حلیم ماما په غیږ کې کینوله ښکل یې کړه ماشاءالله یې وویل . حنا دوی ټول ناست وو . د خندا او ټوکو بنډار روان وو د حنا مور حنا ته سوچ کې کتل چې له مودی ورسته یې د خپلې لور خندا ولیده . د ماښام لمونځ وروسته ټول سره کوټه کې ناست وو زونډی ګل هم راغی . کله یې چې ناڅاپه حلیم ولیده نو خپل غرور او قبر یې لا تازه کړ حلیم سره یې بی خونده سترې مشی وکړه .خو حلیم دده له سترې مشی نه پوه شو . شیبه سره ناست وو .دواړو سره پښتنې مښتنې وکړې. خو زونډی ګل حلیم سره د پخوا په پرتله سم چلن نه کوو . د لمونځ وروسته ډوډی تیاره شوه له ډوډی وروسته ټول سره ناست وو خندا او خبری ټولو کولی حنا ته دا شپه د جنت شپه خکاریده . له لمونځ وروسته چای هم تیار شو . کله چې نهه بجې شوي نو زونډی ګل ته نور د حلیم سره ناسته خوند نه ورکوله او قبر یې زړه کې پیدا شو ځان ورته دده سره کیناستو باندی سپک خکاریده نو حلیم ته یې وویل " زه شکر ده چې بیا مې ولیدی دا چې زما کار هم یو څه ډیر پابنده دی غوښتل مې چې تاته ښار کې چکر درکړم او له کاره پاتې شم خو دکار حاکمان یو سه سخت مزاجه دی ، رخصتی نه راکوی نو سبا وختی کارته ځم ماته ایجازه راکړه زه به ویده شم چې کار ته ځم " حلیم وویل " نه وروره زه لاړ شه تاته هم ایجازه ده " حلیم د زونډی ګل د خوی نه سخت خفه شو کله چې زونډی ګل له کوټې ووته د حنا مور ورپسې ورغله . هلته ورته ډیره غصه شوه او ورته یې وویل " دا ته ولی داسی کوی پخوانی انډیوال دی راغلی دی او دا تا سه قبر وکړ داسی خو سوک نه کوی" زونډی ګل وویل " زه ورکشی ته لا اوس هم پخوانی خیالونه کوی دا سه سپیره سړی دی زه یې هم له ځانه سره سپیره کړی وم نور ما پریده زه ولاړه شه ماته خوب راغلی یو تاسو یې چې هماغسی خویونه کوئ" د حنا مور سک سک وکړل او خفه له کوټې ووتله . حنا هم د پلار په داسی چلن خفه شوه . کله چې د حنا مور بیرته کوټې ته راغله حلیم ته یې وویل " د ورور نه دی خفه نشی دا بس چې له کلی راغلی یو . نو دا داسی شوی قبر او غرور کوی خو خیر د هغه پر ځای زه درنه ببښنه غواړم " د حنا مور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حنا ټوله کیسه له کومی ورځی چی له افغانستانه او خپل کلی نه دی پیښور ښار ته راغلی تر نن ورځی پوری ورته ټول حالات بیان کړل حلیم ډیر سخت خفه شو او بیا یې وویل " ما له مخکی ځان سره دا پتیلی وه چی زونډی ګل به خامخا بدل شوی وی زه ددی لپاره راغلی وم چی ستاسو احوال واخلم او بل ددی لپاره راغلی ووم چی زونډی ګل ته به بیا زه د کار یادونه وکړم خو چی دده داسی حال وی نو خو خیر " بیا حلیم سر ښکته کړ د افسوس نه ډک اسویلی یی وویستل بیا یو دم یي سر راپورته کړ لکه یو سه چی ورياد شوی وی ویویل " حنا او سهيله تاسو پسی زرمینه او حیماد هم ډیر خفه دی خو حیماد بیخی ډیر خفه دی بیخی خراب شوی داسی شوی چی بیخی به یی اوس ونه پیژنی بس ټوله ورځ کوټه کي وی بهر نه ځی خفه او غلی غلی کیږی ډوډی هم لږه خوری کمزوری شوی . دا نن چې زه دلته راتلم هغه وخت کی یی لږ د خور سره وخندل نور می بیخی د هغه خندا هیره شوی خو بیخی درپسی ډیر زیات خفه وی هر وخت مو یادوی بس چی ستاسو خبری ورسره کوم خوشحاله وی کنه غلی ناست وی " کله چی حنا او مور یی دا خبره واوریدله نو ډیر خفه شول حتا د حنا له سترګو اوښکی روانی شوی نور یی زړه ټینګ نه شو کړای له کوټي ووتله او بهر په برنډه کی کیناسته توره تیاره وه آسمان کی یی سپوږمۍ ته وکتل او دا یی وویل " اه زما ګرانه حیماد جانه دومره راپسی خفه یی ته سومره مینه ناک یی زه دی هم نور بیلتون نشم زغملی اه " حنا دا ویل او ورو ورو یې ژړل . د حنا مور هم سک سک وکړل سهیل هم د حیماد په حالت خفه شو . شیبه چپه چوپتیا وه حنا کوټی ته راغله سترګی یی سری وی .حلیم وویل " که زه داسی خبر وم نو خامخا به ما ستاسو د تګ مخه نیوله خو ما ستاسو سترګو ته کتل تاسو تګ ته خوشحالیدی نو زما هم درسره خوښه وه سهیل وویل " ماما جانه دلته د رزق ښه پریمانی ده خو ارواح مو یو سه تنګ دی زما د کاکا زامن او لورګانی ټول تعلیم یافته دی خو د بداخلاقی پری ختمه ده مور پوری مي همیش ریشخند وهي ټول په بله هوا کی ګرځی زما مشر کاکا د پلار سره ډیره جوړه ده پلار ته می زموږ په اړه خبری کوی زموږ سره یی هم په جنګ اچولی ډیر بل رقم خلک دی " حلیم سر ښکته کړ ډیر زیات خفه شو .**

**شیبه وروسته حلیم ته خپل پنډ وریاد شو حنا ته یی وویل " لور جانی ته هغه پنډ راوړه چی خاله درته سه پکی ایخی . کله چی حنا پنډ راوړه مور ته یی ورکړ . مور یی پنډ خلاس کړ قروت او پنیر او وچ توتان او د غره د لمنی چارمغز پکی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وو یوه تور پلستیک هم وو پکی حلیم وویل " حنا لوری دی تور پلستیک کی درته زرمینی یو سه تحفی ایخی دی. او دا چارمغز د هماغه غره دی چی کوم غره ته چی به مو رمی بوتلی دا درته حیماد په خپلو لاسو راشکولی او ویل یی چی دا د خاله حنا او سهیل ډیر خوښیږی " حنا چارمغزو ته وکتل یو یی تری پورته کړ ښکل یی کړ بیا یی تور پلستیک ته لاس کړ خپله خبره وریاده شوه چی زرمینی نه یی د حیماد د لاس نښي غوښتنه کړې وه پلستیک یی خلاص کړ یو کوچنی ډبی کی دوه ګوتمی ایخی وی یوه یی بلي نه جدا کړی وه حنا له نښي نه وپیژندله چی دا شین غمی والا ګوتمه د حیماد د لاس نښه ده ځکه د حیماد شین غمی ډیر خوښېده ژر یی راوخیسته اول یی زړه ته نیږدی کړه بیا یی ښکل کړه او په احطیاط یی په ګوته کړه ورته یی وکتل او له سترګو یی اوښکی لاړي له ځانه سره یې وویل " وئ ګرانه سومره چی ته خوږ یی داسی دی نښی هم خوږی دی .ما خو ویل چی زه به دی هیره شوی یم خو لیونیه تا خو زما پسی ډیر بد حال شوی "**

**د حیماد پلار حلیم د حنا دوی کره دری شپی وکړی خو د ژوندی ګل چلن هماغسی خه نه وو کله چی کورته راتله حنا او مور یی ډیر سامان د حیمادوی لپاره چمتو کړی وو د حیمادوی اقتصاد ډیر خه شوی وو لږ یو سه عصری شوی هم وو خو ژوندی ګل بیا په شته مال چرته مړیده . حنادوی حلیم ته بیګ واخیسته او پکی یی بیخی ډیر سامان وو حنا پکی د حیماد لپاره ځانګړې تحفې او د لاس ډېری نښي هم ایخی وی د حیماد پلار حلیم تري ډیره مننه وکړه او سهیل ورسره تر سرکه هغه د سامان بیګ ورسوو حلیم یی ګاړی کی کینو سهیل تري بیرته کورته راغی . د مازیګر مهال وو حیماد رمه وختی کورته راوسته چی کورته راغی نو پلار یی نه وو راغلی مورته یی وویل " موری پلار می نده راغلی " مور یي دیګ سره د مال ځای ته روانه وه چی ویویل " نه زویه تروسه خو نه ده راغلی خو نن راته کیدای شی لاره کی پری یو سه ناوخته شوی وی " زه کټ کی کیناستم دمه می جوړوله چی زرمینی خور می راغږ کړ " حیماده راځه اوبه دی واخله اودس دی وکړه چې ماښام نژدی دی " زه په زنګیدلو قدومونو تشناب ته لاړم اودس می وکړ مخ لاس می وچ کړل .د یخنۍ موسم نیږدی وو لاټین می کوټه کی بل کړ بیرته چی راوتلم نو پلار می په دروازه راښکاره شو چی غاړه کی یی دروند غټ بیک وو ما چغه کړه " هله پلار می راغی " ورمنډه می کړه له پلاره می بیګ واخیسته برنډی کی می کیخوده پلار**



لیکوال: جمال معصوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې غاړه ورکړه مور مې هم سترې مشې ورکړه .د ماښام لمونځونه مو وکړل کوټه کې سره ناست وو . مور مې ما او زرمينې ټولو د پلار څخه د خاله دوی په اړه پښتنې کولې . پلار مې راته ټوله د الف ته تر يي پورې د حنا دوی کيسه وکړه چې هلته يې ژوند سنګه وو او سه حالات وو . پلار مې د زونډې ګل ماما د قبر او غرورو په اړه هم وغږيده زه د حنا دوی په داسې ژوند ډير خفه شوم زړه مې ډک او تش کيده . د ماسخوتن لمونځ مو وکړ ډوډې وخوړل شوه . پلار مې د هغوی په ژوند پوره پوره وغږيده مور مې او خور مې هم خفه شول د هغوی په حال . کله چې خبرې خلاسې شوې مور مې وويل " دغه بيګ سومره لوی ده دې کې يې سه اچولې . الله دې د هغوی مل او ملګړی شي الله دې هغوی خوشحاله لرې چې دومره مرسته يې زموږ سره وکړه چې دا غټ بيګ سامان يې درکړ " پلار مې وويل " ته دا بيګ راواخله چې سه دې پکې ما هم ولاکه ليدلې خو بس بند په بند يې راکړ " مور مې بيګ خلاس کړ خايسته کالې وو پکې دوه جوړه نوې کالې يې زما مور ته دوه جوړه يې زرمينې ته دوه جوړه يې ماته او دوه جوړه يې زما پلار ته پکې اچولې وو . کله مو چې کالې خه وليدل ترې لاندې نور سامان هم وه . يوه وړه بکسه هم پکې وه هغه مې پلار خلاسه کړه پکې پنځه زره افغانۍ وې موږ ډير پرې خوشحاله شو دوه پلستيکونه نور هم وو . يوه کې د زرمينې لپاره سامان وو بل کې زما لپاره سامان وو چې د عطرو نه نيولې تر لاسي ساعت پورې هر سه پکې وو . ټول ډير خوشحاله شو مور مې ورته ډيرې دعاوې کولې پلار مې هم ترې دير راضي وو . مور مې د کاليو په ليدلو او پلار مې د پيسو په شمارلو لګيا ول چې زرميلې ماته ايشاره وکړه کله چې ما زرمينې ته وکتل هغي سره يو وړوکې ډبې لاس کې وو ورنيږدي شوم چې ډبې يې خلاس کړ يو د هلکانو خايسته ګوتما وه پکې زرمينې راته غوږ کې وويل " حيماده ورورہ دغه ګوتمه درته حنا ډالې کړې هه واخله مبارک دې شه،، زه مسکې شوم ډبي مي ترې واخيسته ګوتمې ته مې کتل حنا رایاده شوه له ځانه سره مې وويل " دا ګوتما سومره بختوره ده چې حنا زما لپاره خوښه کړې،، ګوتما مې په مينه په ګوته کړه . بيا مې د پلار سترګو ته کتل له ځانه سره مې وويل " خدايه دا زما د پلار سترګې سومره خوږې دي چې حنا يې پرې ليدلې " ما به د پلار سترګو ته ډير کتل حنا به راته پکې ښکاريدله . مور مې د بيګ سامان بيرته پر ځای کړ پلار ته مې خوب ورغی شيبه وروسته ټول ويده وو خو زه ويخ وم . ما د حنا ګوتمې ته کتل او ژړل مې د حنا د پلار بد چلن او د حنا دوی د خفګان ژوند راپياد شو چې پلار مي راته وويل او د هغوی حالات يې راته بيان کړ . زړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بې واره په درزیده شو هغه بد خوب هم راپیاد شو چې کومه ورځ د حنا دوی کور تله هغه ورځ مې چې کوم خوب لیدلی وو زړه کې مې ویل " لکه چې هغه خوب رختیا کیګې " همداسې د حنا په سوچونو کې وم غمونه یې راباندې لا ډیر شول زړه مې نا ارامه وو تر نیمې شپې ویخ وم او ژړل مې . زهن کې مې ډول ډول شکونه پیدا کیدل. همداسې وختونه تیریدل زما د مخ رنګ بیا په ژیړیدو شو یواځې د حنا ګوتمې به راته لږ سکون راکوو . همداسې د خزان وختونه روان وو تر دې چې دوه کاله همداسې ووتل زه هم راځوان شوی وم خو د زلمینتوب رنګ مې حنا خوړلی وو او د حنا په تمه ناست وم پلار مې سو واری ډاکټر ته بوتلم خو نه مې مرض معلوم شو او نه مې علاج وشو . یوه ورځ د حیماد مور او پلار چې مازیګر وخت وو په کټ سره ناست وو د حیماد مور حلیم ته وویل " دا حیماد ورځ تیرېږیکړکې ترې جوړیګی راځه نور هسې هم زلمې شوی چې د واده غم ورته وخورو تبیعت به یې ورسره یو سه جوړ شي " حلیم یې خبره تایید کړه او ورته یې وویل " د حیماد خو هسې هم خوخه ده ښه نو ځای راته خایه چې لخیره ورته یې وغواړو . او که ستاسو خوخه وی نو حنا به ورته وغواړو ډیره یو خه جلۍ ده هغه به هم پیغله شوی وی " حیماد مور په کټ کې رانیغه شوه د چای پیاله یې له خولې لرې کړه او حلیم ته یې وویل " ولې نه زما د زړه خبره دې وکړه او دا حنا د حیماد هم ډیره خوخه ده ته یې لا تر اوسه په مرض نه یې پوه شوی خو زه پرې پوهه شوی یم دا حیماد چې داسې په بد حال دی دا د حنا سره مینه لرې خو پام چې سه ورته ونه وای " حلیم وخندل او ویویل " خه خه نو دا خبره وه زه وایم چې دا هلک ولې هر وخت داسې سوچونو کې ډوب وی دا راته مجنون شوی دی دا د عاشق بچې چیری دی " حلیم دا خبرې وکړی بیا لږ سوچ وروسته یي وویل " یاره خور خو به دی ومنی خو زونډې ګل نه مې ویره کیږی هغه بل رقم شویدی " د حیماد مور وویل " خدای به خیر کړی یو ځل به یې ورته یاده کړو لخیره " حلیم وویل " داسې چې ده نو دا کار چې سومره ژر کیږی باید ویکړو زه هر سه ته آماده یم که خدای کول حیماد سره به هم خبره شریکه کړو او بیا به نو لخیره رااروانه هفته کې به ورشو که سنګه " حیماد مور خبره ومنله . زرمینه چې تر دې دمه یې لوښی پریمنځل د مور او پلار خبرې یي ټولې واوریدې او په منډه کوټې ته ننوته حیماد ته یې غږ کړ " وه حیماده زیری مې دربانډی " ما وویل " سه خبره ده " زرمینې راته د مور او پلار ټولې خبرې وکړی ډیر خوشحاله شوم دومره چې بیخي زیات ما او زرمینه په همدی خبرو کې وو چې مور او پلار مې کوټې ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل پلار می راته وکتل او مسکی شو راسره خوا کی کیناست لاس یی رانه چاپیر کړ او راته یی په خندا او ټوکو وویل " هي د مجنون بچیه زه خو اوس پوه شوم چی زوی می عاشق شوی دی ما ویل چی په تا کی کوم مرض دی اخیر همدا وو مړه زه چی دی په مور مییینیدم نو ما په خکاره ټولو ته چغې وهلی او یو ته نازوان یی چی تر اوسه دی پټ زړه خوړه .زویه مخکی به دی راته ویلو وو کنه هسی دی خان دومره خراب کړی دا خو ستا حق دی باید ته په خپله ووای چی پلاره دا جلی راته وغواړه . نور دی زړه مه خوره دا کار ماته پریده چی ته پری خوشحالیږی نو حتما به یی درته غواړم که خدای کول راروانه هفته کی دی ما او مور ورځو لخیره " ډول سره ناست وو ما هم د پلار خبرو ته خندل پلار می بیا رانیږدو شو ویتخړولم راته یی وویل " اوس خو اوخانده کنه زویه " ما وخندل ټولو راسره وخندل . زرمینی ته می پلار وویل " هله لوری هغه رادیو می راوړه چی اوس یی دی خپل زوی ته چالانه کړم " زرمینی رادیو راوړه پلار می پکی سندره چالانه کړه . ټول ډیر خوشحاله وو . ورځی تیریدی زما روح یو سه تازه وو . پلار او مور می پیښور ته روان شول د ریباری لپاره زونډی ګل ماما کره . موږ لپاره یې انا راوسته او راسره وه خه ساعت مو سره تیر وو خو زما زړه د زونډی ګل ماما نه ډیر ډاریده چی هغه یی خدای نا خواسته ونه مني ځان سره به می ډیری دعا کولی کله کله به می ځان خیالونو کی لیده چی کوژده می وی او پلار می راته مبارکی راکوی . خو کله به می چی زونډی ګل ما ما خیال کی راوسته نو زړه به می پښنو ته ولویده او ناکراره وم .

د مازیګر وخت وو حنا په بړستن کی ناروغه پرته وه مور یی تر څنګ ناسته او لاسونه یی لپه کړی وو ویل یی " خدایه زما دا ناجوړه لور جوړه کړی خدایه زموږ خو همدومره وس وو چی په ډاکټرانو مو ستړی کړه خو نه یی علاج وشو او نه یی مرض معلوم شو خدایه ته پري نور خپل رحم وکړی " کله یی چی دعا خلاصه کړه نو حنا ته یی وکتل چت کی یی سترګی ګنډلی وی او سوچونو کی ډوبه وه . د حنا مور سرف دومره پوهیدله چی شاید حنا د خپلو خاله او کلیوالی ژوند پسی خفه وی خو په اصلیت نه پوهیده . د حنا مور په جاینماز ناسته وه ذکر یی کوو چی د دروازې غږ یی واوریده ولاړه شوه د کړکی نه یی بهر وکتل نو خپله کلیواله خور یی ولیده چی حلیم یی تر شاه راروان وو د خولی یی نا تراسه د خوشحالی غږونه ووتل .خو شحاله به ولی نه وه چی خور یی وروسته له څو کالو ولیدله حنا هم له خوشحالۍ نه د لړزاندی تبی سره پاڅیده . دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خویندو له خوشحالیو نه ژړل حنا هم ورغاړی وتله او په ژړا یی پیل وکړ .شیبه وروسته کوټی ته ننوتل سهیل هم راغی توده سترې مشی یی ورکړه . حنا بیا د خوشحالی نه په جامو کی نه ځایده خوله یی له خندا ډکه وه خپلی تبی یی هیری شوی لکه د زړه درمل یی چی موندلی وی داسی روغه جوړه شوه چی مور یي حنا ته ډیره حیرانه وه چی سومره ژر د خاله لیدو یی خپل عادی حالت ته راوسته.

کله چی د حیماد مور حنا ته ښه پام شو نو دا ورته معلومه شوه چی حنا ډیره وچه شوی ده سترګو یی توری حلقی پیدا کړی . نو د حنا له موره یی وپوښتل " خوری دا حنا لورکی می سنګه داسی خرابه شوی ولی سه مریضه خو به نه وی سنګه ګلالئ جلي وه " د حنا مور وویل " بس خوری چی له کومی ورځی موږ دلته راغلی یو نو حنا خه ورځ نه ده لیدلی بس تاسو پسی یی زیری وو " حلیم وویل " دا لورکئ می هم لکه د حیماد په څیر هم ډنګره شوی او ژیړه شوی ده شیبه وروسته زونډی ګل هم راغی ښه ستري مشی یی ټولو ته ورکړه کله یی چی خپله حنا لور ولیده له کمپلی راجګه شوی او د خاله سره یی ناسته ده او خاندی نو ډیر هیران شو ، خپلی ښځی ته یی وویل " وه دا زما لور سنګه یو دم داسی تبی وشکولی او له بستری راووتله،،، د حنا مور وویل " سړیه ما تاته نه وو ویلی دا خپلی خاله پسی خفه ده ته وګوره " حنا مسکئ شوه بیا یی سر ښکته کړ د حیماد سوچ کی شوه چی حلیم ویل حیماد هم د حنا غوندی خراب شوی . حنا پوی شوه چی حیماد ورپسی خفه دی خوږه موسکا یی له ځانه سره وکړه . سترګی یی نمجنی شوی . دا شپه همداسی تیره شوه کله چی سحر شو حلیم د سهیل او زونډی ګل سره په چکر بهر لاړل . د حیماد مور خپلی خور سره په برنډه کی لمر ته ناسته وه او چای یی سکه ورنیژدی شوه ورته یی وویل " خوری ته پوهیږی موږ سه لپاره راغلی یو،، د حنا مور مسکئ شوه بیا په خندا شوه او ویویل " لکه چی ایرادی مو دا ځل نوری دی داسی لږه لږه پوی شوم " دی سره دواړو خویندو وخندل بیا د حیماد مور عظمه ځان ته رانیږدي  کړه او ښکل یی کړه شیبه غلی وه بیا یی ستونی تازه کړ او وویل " ما خو تاسو سره لا پخوا خبره خلاسه کړی ده دا وار د دسمال وړلو ته راغلی یم " د حنا مور وخندل او ویویل " زما لخوه دی درته له اوسه مبارک وی خورجانی خو بیګاه ته دا خبره به ټولو سره شریکه کړو" حنا چی حویلی کی لوښی پریمنځل دا خبری یی واوریدی ډیره زیاته خوشحاله شوه هسی یی له ځانه سره خندل او د خوشحالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټپې يي شروع کړی " مبارکی راکړی علمه مرکه د خوږ جانان راغلی دنه کله چی شپه شوه ټول سره ناست وو د حيماد مور خپل ميره ته ايشاره وکړه چی خبره ياده کړی حليم اول له ځانه سره بسم الله وويله او په خپل ځای کی رانيغ شو زونډی ګل ته وويل " زونډی ګله وروره ته به خبر يی يا نه موږ د يوی خبری لپاره راغلی يو او هغه دا چی سومره چی د چا د بچی کور ژر په خوشحالی آباديږي نو هغومره ښه ده .دا چی زما زوی حيماد هم زلمی شوی او ستا لور حنا هم پيغله شوی نو تاسو ته خو به د حيماد مور هم مخکی دا ويلی وو جی حنا لخيره زما د زوی ده نو موږ د خپل زوی لپاره ستا لور حنا غواړو خو پدی هيله چی خفه مو هم نه کړي،، حليم دا خبره په ترتيب او په ډيره عاجزی وکړه . کله چی زونډی ګل دا خبره واوريده نو رنګ کی يی تغير راغی . دا خبره پری بده ولګيده ځکه هغه اوس ځان ډير بل رقم احساسوو چې زه مالداره شوی يم او بله خپله پريکړه هم ورياده شوه چی کلونه مخکی يی د خپل مشر ورور چی ډير پری ګران وو د هغه د زوی سره د حنا خبره ختمه کړی وه . سترګی يی رډی راوختلی تندی يي تريو کړ نور حنا له کوټي ووتله زړه يی درزيده . زونډی ګل خپل ځای کی رانيغ شو او ويويل " ګورئ تاسو ټول زما خبره ښه په غور واوری که سه هم چی شايد په تاسو به بده اغيزه وکړي خو زما اخيری خبره ده او زما خبره د کاڼي کرښه ده هغه دا ده چی کلونه وړاندی هغه وخت چی زما د ورونو کورونه هم افغانستان کی او کلی کی وو يوه ورځ می ورور کره لاړم د مشر ورور کره چی هغه اوس هم زما د سترګو تور دی مشر ورور می رانه حنا په ماشومتوب کی وغوښته نو ما هم نه ونه کړل ما خپله لور د مشر وراره پنوم کړی ده او اوس هم په خپله وعده کلک ولاړ يم او ورور می هم کلک ولاړ دی او ما ځکه ددی په اړه چاته تروسه سه نه دی ويلی چی خامخا به د حنا مور ما سره دا ونه منی خو اوس نو تاسو له حنا ځان بيغمه کړئ ما د هغی کار مخکی خلاس کړی نو حليمه وروره هغه ټرون زه اوس نشم ماتولی او خدای دی وکړی چی خفه شوي هم نه وسی الله دی ستاسو زوی ته زما د لور نه ښه ځاي په نصيب کړی کله چی حليم دا خبری ټولی واوريدلی نو د ټولو خولی له حيرانئ وازی پاتی شوی د حيماد پلار ډير زيات خفه شو . د حنا مور او د حنا خاله دواړه په ژړا شوی او زونډی ګل ته يی وويل " دا ولی آيا ته رختيا وايی که رختيا وايی نو دا تا سه کړی تا ولی ددی معصومی جلی حق د خپل زوق ښکار کړ اخير ولی دی داسي وکړل . دا خبره زه درسره نه منم سړيه چی تر سو دی دا خبره ختمه کړی نه وی زه دې نه پريدم ، ته ماته له اوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیرس ناک معلومیدی زه پوهیږم تا د پیسو په بدل دا کار کړی,, زونډی ګل سترګی سری شوی او په غوصه یی وویل " بس کړه خوله دی بنده کړه که نه درماته وم یی ما مخکی وویل چی زما خبره د کانی کرښه ده!!,, کله چی د حنا مور پوی شوه چی میره یی نور د غوصی حالات خرابیږی نو غلی شوه . خو زړه یی له ژړا ډک وو دواړو خویندو ژړل حلیم هم سترګی ښکته نیولی وی د ویلو ورته هیس نه وو پاتی کوټه کی خاموشی وه . یوازی د ساعت د ستونو ټکار ختله شیبه وروسته د حنا مور حنا ته په ژړه غوني غږ اواز وکړ " حنا راشه لوری دا د چایو لوښی ټول کړه ‘‘ د حنا غږ نه راتله مور یې بیا ورغږ کړ " حنا چیرته یی لوری تاته وایم حنا وه حنا " د مور یی سودا شوه له کوټې ووتله حنا پسی ورغله او برنډی ته ورغله ګوری چی حنا لاندی برنډه کی پړمخی پرته ده. د مور له خولی يي چیفه ووتله " هله په لور می سه وشول " ټول راغونډ شول حنا يي امبولانس کې د ښار هسپتال ته یوړله د امبولانس سره د حنا مور خاله او پلار لاړل . کله چی ډاکترانو د هغی حالات وڅیړل او له ښونی راووتل نو ټول ډاکټر ته په منډه مخی ته ورغلل ډاکټر ورته وویل " ستاسو د مریض په اعصابو بوج ډیر راغلی چی د هغی له امله اوس بی هوشه ده او په څلورویشتو ساعتونو کی به بیرته په هوش شي " د حنا مور او خاله لاسونه خدای ته لپه کړل او د خدای شکر یی وویسته . خو په دې وپوهیدل چی حنا ټولی خبری اوریدلی نو ځکه یی دا حال شو د حنا پلار ته يي هم احوال ورکړ د حنا مور او خاله تر سبا ورته ویخ وو او له غمه یی ژړل . سبا همدا وخت وو چی حنا په هوښ راغله سترګی یی وغړولي او له ځانه سره یی ویل " زه چیرته یم زه چیرته یم ‘‘ مور یی سر په غیږ کی کیخوده کله چی حنا پوهه شوه او د تیری شپی خبری ورپیاد شوی په سلګو شوه خه یی په چغو چغو وژړل شپه همداسی تیره شوه چی سحر شو پلار یی هم ورته راغی حنا چپر کټ کی ملاسته وه چی پلار یی ولیده له هغه یی مخ واړوو پلار یی د صحت پوښتنه تری وکړه لور یی به تروش تندی ځواب ورکړ . " اوس خه یم ‘‘ شیبه وروسته یی خپل کورته راوسته ډاکټرانو ورته وویل چی " دی زهنی ټکان خوړلی خفګان ته یی مه پریدی سوچ ته یی هم مه پریدی چی سه یی په طبع وو بس هغی ته یی پریدی ځکه داسي پیښي ځیني وخت ډیر بد خبر هم لری " کله یی چي کورته راوسته نوره خه وه خو د پلار داسی بدی پریکړی ژوند ته نه پریخودله ځان یی مړ احساسوو د خزان بادونه پری راغلل بس شپه او ورځ به یې له سترګو اوښکي روانی وي زړه یی نارامه وو. خاله او حلیم ماما یی هم په همدی سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی حنا یی کورته راوسته بیرته نا امیده کورته روان شول خو د حنا مور ورسره ژمنه وکړه چی حنا به بل چاته ورنکړی او د حنا مور هم حنا ته داډ ورکوو چی زه درسره یم . حیماد خپلی رمی د کور په مخه روانی کړی وی سوچونه یی کول کله یی خیال کی ولیدل چی مور او پلار یی په خندا حیماد ته مبارکی ورکوی خو کله به یی د پلار غمژنه څیره وریاده شوه . په همدی سوچونو کی وو چی حیماد باندی یو سړي غږ وکړ " هي شپونه ویخ یی که ویده رمه دی زما په پټی روانه کړې ده " ما تري ښښنه وغوښته رمه می لاری ته برابره کړه کله چی کورته ننوتلم خاموشه خاموشی وه مور می له انا سره برنډه کی ناسته وه پلار می هم ناست وو خور می اشپزخانه کی وه زما زړه په درزار شروع وکړه زړه می پښنو ته ولویده په زړه می وخوړله چی حیماده لاړی .کله می چی د مور راپام شو رامنډه یی کړه زه یې غیږ کی ونیولم سترړی مشی می ورکړه پلار ته می هم سترړي مشی ورکړه مور می رانه د صحت او د تیرې ورځو پښتنه وکړه . ما هم دمور مهرابانو پښتنو ته ځواب ورکړ . ټول سره ناست وو ما به کله دمور او کله به مې د پلار سترګو ته کتل ددواړو څیری داسی معلومیدی لکه ډیر خفګان یی چی لیدلی وی . زما زړه ډک او تش کیده مور می زما په حالت پوه شوه د تسلیت په ډول یی راته وویل " حیماده موړ خو تلی وو خو ماما دی نازوانی راسره وکړه وینه منله خو خیر زویه تاته به داسی ښکلی جلۍ راولم چی یو ویښته به یی هم د حنا سره برابر نه نشی " زما زړه نور اخیری حالت کی وو پلار می هم غمژنه څیره راته ونیوله ما په مړاوی غږ وویل " هیس خبره نه ده موری مخصد چی تاسو په خیر راغلی یی،، دا خبره مې وکړه نور می خوله خبرو ته نه جوړیده سترګی می ښکته کړی ولاړ شوم زرمینی راغږ کړ " راشه لالا مخ لاس دی ومینځه چی ناوخته دی،، زه ولاړ شوم اودس می وکړ لمونځ می ژر ژر برنډی کی وکړ له ژړا ډک وم او په سر می داسی دروند درد شو چې ټول عمر کی راباندی داسی درد نه وو راغلی .
مورته می وویل """ موری زه ځم پاس ویده کیګم په سر می درد دی ما راجګ نه کړی،، مور می راته وویل " ولی زویه ډوډۍ به دی خوړلی وه بیا به ویده شوی وی " ما هیس ونه ویل مور می زما په درد پوهه شوه له سترګو یی اوښکی روانی شوی . زه هم په ژړا پاس بام ته وختلم زرمینی له مخکی د خوب کټونه او بستری تیار کړی ول . خپل کټ ته وختلم سپین څادر می په سر کش کړ او د زړه له خلاسه مي وژړل کله می چی د مور او انا غږ واوریده چی پاس بام ته راختل نو ژړا می ورو کړه هغوی بیل په سترنجی کیناستل ما د اسمان ستورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کتل او له سترګو می اوښکی روانی وی بیخی می حالات خراب وو اور راباندی بل وو خپل ستوری ته می وکتل کرکه می تری وشوه چی زه سومره بد قسمته یم بیا می د حنا ستوري ته وکتل هغه هم نه ځلیده د هغی په سوچ کی شوم چی " خدایه زما د حنا به سه حال وی هغه به خفه وی که نه به وی هغه به اوس زما ستوری ته ګوری کنه به ګوری خدایه دا څه ډول امتحان دی خدایه زه خو به مړ شم د حنا پسی یا خدایه ته زما عرض واخلی اخیر ولی زما ماما مرکه ونه منله ولی په ما کی سه کمی دی خو دا ټول ددی بدبختی غریبی کار دی او حنا جاني زما د سترګو دید یی زه خو به بی له تا لیونی شم " تر نیمه شپه همداسی ځای کی اووختم راوختم خو خوب نه راته د حنا ستوری ته می کتل بیا می هغه پخوانی خوب را یاد شو له ځانه سره مي وویل چي هغه شیطاني خوب خو رختیا شو . پدي وخت کي مي مور زما له مخ نه څادر لري کړ زه یي ولیدلم چي مخ مي په اوښکو لوند دي. مور مي په ژړهغوني غږ وویل ،،وئ زما ځیګره مه ژاړه کنه ماما به دي رضا شي لخیره که هغه ونه شوه نوري خو شته کنه شیرینه،، په مخ یي ښکل کړم او راته یي وویل،، نور کرار ویده شه زړګیه،، ما په سر څادر کش کړ فکرونو کی وم چی خوب راباندی غلبه وکړه او ویده شوم . کله چی ویده شوم خوب ګورم چی " " " حنا هماغه باغچه کی ناسته وی او ژاړی او ژیړ د شړشمو ګل یي په لاس کی وی کله چی ما وګوری رامنډه کړی او په خندا شی شیبه وروسته بیا په ژړا سره راته ووای موږ خو یوځای شو خو ټول خپلوان مو له لاسه ورکړل چا هم زموږ خوشحالی ونه لیده او نه ما او تا چا خوشحالی ته پریخودلو " " دا خوب می ولیده راویخ شوم زړه می درزیده نیمه شپه وه استغفر الله می وویله . تر ډیره د حنا په سوچونو کی ویخ وم یو وخت می سترګی پټي شوي . همداسی وختونه تیریدل د حنا او حیماد حالت ورو ورو په خرابیدو وو خو حیماد ته لا تروسه دا پته نه وه چی حنا یی د بل تره زوی په نوم ده . یوه ورځ د حنا مشر تره چی ایمل نومیده زونډی ګل ته یې وویل " زه غواړم چی هغه تیره وعده سره سرته ورسوو ستا لور هم رسیدلی ده او زما زوی هم سږ کال دولسم نه فارغیږي که خوخه دی وی نو کوزده به یی وکړو چی لږ بوچ خو مو پري راکم شی " د حنا پلار زونډی ګل چی د همدی خبری په تمه وو په خوښی یی ورته وویل " ولی نه هر سنګه چی ستاسو خوخه وی نو هر وخت چی ته غواړی ،، ایمل ورته وویل " زه لخیره دا خبره زه کور کی شریکوم بیا درته وایم کله چی ایمل کورته لاړه نو د ایمل ښځه چی مخکی یی هم دا مسلات سره کړی وو بیا یی هم ورسره یاده کړه د ښځی یی هم خوښه وه خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی چی خپل زوی حامد ته دا خبره وکړه نو حامد په ډاګ لګیده هغه خپل پلار ایمل ته وویل " اول خو دا چې زه اوس ښځه نه کووم تر سو چی پوهنتون ونه وایم بله دا چی دا جلی ہی تعلیمه ده او بله دا چی زه به په خپله خوښه ښځه کوم هو ایمل چی د زوی دا خبری واوریدی نو ډیر ورته په قهر شو او ورته یی وویل " پاسه ګیدړه ته زما مخکی زما له خبری تیریږي ته لا وړوکی یی په ښو او بدو نه پوهیږي چی واده دی وکړ بیا به خه پوه شی چی موږ ستا په ګټه لګیا یو او که په تاوان بیا دی داسی ناپېرتی وانه ورم پوی شوي راوروانه اونی لخیره درته دسمال راوړو او فارغیدو ته دی هم لږ وخت پاتی دی "

دا چی د حامد پلار ایمل یو غوصه ناک او ضدی سړی وو او د کور ټول واک د همده وو نو حامد د پلار په مقابل کی نور هیڅ ونه ویل له ځایه جګ شو . خو زړه کی یی ډیری بدی پریکړی وکړی تر سو ددی جنجال څخه ځان خلاس کړی . کله کله به یی مورته هم خپل جواب ورکړ چی واده زما حق دی نو خوخه به هم زما وی زه درته له اوسه وایم چی زه دی کوزدی ته تیار نه یم نور ستاسو خوخه ده . " مور یي د حامد په خبرو غوږ نه ګروو له ځانه سره به یی ویل ځه خیر دا هلک دې نه پوهیږي یو ځل یی کار ورخلاس کړو نور به خپله پوه شی . یوه ورځ زونډی ګل د ایمل د راتلو خبره کور کی وکړه چی دسمال پسی راغی . حنا نه وه هغه اشپزخانه کی وه د حنا مور ډیره سخته غوسه شوه او ویویل " په خدای که به رانه د دسمال پیسکه هم وګوری دا خیالونه دی اوبو ته تیر کړه هیسکله به زما په لور باندی خپل جیب ډک نه کړی " کله چی زونډی ګل دا خبره واوریده نو هغه باندی یی بد تاثیر وکړ او د حنا مور باندی یی شروع وکړه ډیره یی ووهله سهیل او حنا رامنډه کړل د پلار نه یې خپله مور خلاسه کړه چی کله زونډی ګل وته نو په قهر یی وویل " که یوه سترګه مو ژاړی او که بله خاندی حنا زه خپل وراره حامد ته ورکووم پوی شوی!! " حنا او مور یی په برنده کی ناست ول او ژړل یی سهیل هم د پلار طرفی کوو حنا ته غوصه ورغله او سهیل ته یی وو ویویل " غلی کینهلاټو ته هم د پلار طرفی کوی زه به هیسکله د حیماد نه بغیر بل چاته هو ونه کړم " سهیل باندی دا خبره د ټوپک ډز غوندی ولګیده او په حنا یی راباندی کړل او په چغو یي شروع کړل " بی حیا مرداری اخیر دی همدا ویل غوښتل " د حنا مور چغه کړه " پریده ظالمه چی مړه دی کړه پریده " سهیل وروستي سوک حنا ته په ملا کی ورکړ چی حنا دی سوک سره بی هوښه شوه او پر ځمکه بی دریغه ولویده سهیل بهر منډه کړه مور یی چغی کړی " خدای دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه مات کړه زویه اخیر دی هم جلی مړه کړه،، ژر ژر یی په حنا اوبه واچولی او په هوښ راغله دواړو مور او لور سره غیږه ی ورکړی او په ژړا یي پیل وکړ . ورځی تریدلی او حنا حالت نور هم خرابیدو له ځانه سره یی ډیری پریکړی کولی او ویل به یی " چی ځان مړ کوم خو د بل چا به نشم زه د حیماد لپاره دا قربانی ورکوم ما له حیماد سره ژمنه کړی له هغه سره می وعدی کړی چی بی له تا به هیسوک زما په ژوند کی ګډون ونه کړی خو بیا به یی وویل چی " نه که ځان مړ کړم نو ددی دنیا شرمیدلی به شم دا دنیا خو می هسی هم خرابه ده هغه دنیا ولی په ځان خرابه کړم کله به یی یو ډول او کله به یی بل ډول پریکړی کولی خو هیس نتیجی ته به نه رسیدله تر دی چې مشر تره ورکره ریباری ته راغي یو سو نور ملګری هم ورسره وو . زونډی ګل له میلمنو سره په حجره کی ناست وو کور کی یی څوک خبر نه کړل حنا ته یې وویل " لوری هله یو سه میلمانه راغلی دی چای چمتو کړه حنا په ړنګیدو قدمونو د اشپز خانی په لور روانه شوه زوندی ګل مخکی له مخکی یی یو نوی دسمال او چی چکلیت پکی وو پټ له ځانه سره ایخی وو . هلته حجره کی د پښنو سړو غږونه اوریدل کیدل د حنا مور شکمنه غوندی شوه . یوه بریتو سړی وویل " زونډی ګله ته لخیره زما دی اندیوال نه سومره ولور اخلی "زونډی ګل چی تر ډیر وخته یی ددی خبری په انتظار کی وو او حنا یی هم د همدی مقصد لپاره ورکوله چی تر سو ډیري پیسی پرې واخلی نو په خوند یی وویل " یاره چی زما دا ورورک هم خفه نشی نو شپږ لکه افغانی به بس وی ،، ایمل د قبر او غرور ډکه خندا وکړه او ویویل " ستا لپاره دا خو اوس هم لږی دی ځه زه به یې د ورورۍ شپږ نیم لکه درکړم " زونډی ګل لا خوشحاله شو او د ایمل ملګرو ته یی د ایمل چاپلوسی او صفتونه شروع کړل.

سهیل چای راوړه پیالی ډکی شوی چایی وسکل شول ایمل خپل ورور زونډی ګل ته وویل " که تاسو کور کی مشوره سمه نه وی کړی نو مشوره وکړه بیا به راشو،، زونډی ګل مسکی شو او ویویل " نا زونډی ګل داسې سړی نه دی چی د بیغرته سړی غوندې د ښځې او لور مشوری ته غوږ وی بس زما خوښه د هر چا خوښه ده " ایمل وخندل او ویویل " خه نو داسی چی ده نو دعا به پری وکړو " ټولو لاسونه پورته کړل دعا یی وکړه زونډی ګل په منډه کورته ننوته او پټ یی د سمال په لاس کی نیولی وو چی حجری ته تله نو د حنا مور پری پوهه شوه ورمنډه یی کړه د زونډي ګل پسې خو هغه تری ووته . د حنا مور چغه کړه " وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالمه اخیر دی هم خپل ضد پوره کړ " حنا رامنډه کړه مور ته یی غاړه ورکړه او
په چغو چغو یی سره وژړل . بل خوا چی کله زونډی ګل ایمل ته د سمال ورکړ نو
ایمل له جیبه دوه لکه افغانی راوویستی او زونډی ګل ته یی ورکړی ورته یی وویل
"دا دوه اوس واخله چی زړه دی پری ټکور شی او نوری به بیا درکړم " زونډۍ
ګل ترې مننه وکړه او خو شحالی نه په لړزیدلو لاسونو یی روپی جیب ته کړلی
ټولو یو بل ته مبارکیانی ورکړی او لاړل - کله چی زونډی ګل کورته راغی ګوری
چی ښځه او لور یی ناست دی ژاړی دوي ته په خندا شو او له جیبه یی دوه لکه
روپۍ راوویستی او وویل " ای کمعقلانو دا روپی وګوری تاسو پدی هم قبر کوئ
حلیم سه سپیره سړی دی هغه چیرته دومره روپۍ راکولی شوی بل لوری ته مه
خفه کیګه ایمل به تا د حلیم دوي نه خه ساتی ایمل کاکا دی ډیر پیسادار ده ایله به
په ژوند پوهه شی " ښځي یي په ژړا ورته وویل " هي خدای دی تا سره ددی
پیسو ووهي زما د لور په اړه فکر نلری بس همدی پیسو په مخه کړی وی "
زونډی ګل غوسه شو سو ګوزارونه یی په ښځه وکړل خو پاتی راغی حنا تري
خپله مور خلاسه کړه په سبا باندی زونډي ګل حلیم ته هم زنګ ووهه چی بله ورځ
ته د حنا کوژده ده

حلیم ډیر زیات خفه شو کله چی کورته راغی خپلی ښځی ته یی د حنا په اړه وویل
د هغی له سترګو هم اوښکی روانی شوی او زونډی ګل ته یی په خیرا شروع وکړه
بله خوا حنا سمه لیونۍ وه نه پوهیده چی سه وکړی خو اخیر یی خپله بده پریکړه
وکړه چی سبا مازیګر به د موږکانو دوا خوری .د ژوند ټولی لاری پری بندی وی
همدا پریکړه یی کوله چی خبر راغی د حنا نامزاد د کور څخه روپۍ غلا کړی او
ترکیې ته په قاچاکی لار له ملګرو سره روان شوی دی پدی خبره حنا ډیره
خوشحاله شوه خو مور یی نوره هم خفه شوه او پدی ټول وپوهیده چې د هلک هم
حنا نه وه خوخه نو ځکه له دی پریکړی سره یی ځان ورک کړ . حنا ته دا خبر خه
وه خو پلار او مور یي بیا خفه وو چی دا سه وشو . بله خوا حیماد چی ددی سو
ورځو نه ډیر مریض وو نو په کټ کی پروت وو چی د مور دا خبره یی واوریده
چی ویل یی " خدایه ته د زونډي ګل خوله ماته کړی چی زما حنا یی خپل وراره ته
ورکړه او زما زوی یی دی بد حالت ته ورسوه " د حیماد مور دا خبره په لوړ اواز
وکړه نو فکر یی کوو چی حیماد ویده دی زرمینی پري غږ کړ " موری لږ ورو شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حیماد به یې واورې " حیماد چې د مور دا خبره واوریده نو تیره چغه یې له خولې ووتله نا حنا | داسې نشې کیدای "

د حمیاد مور او زرمینه او پلار یې د حیماد په کټ ورمنډه کړه ګورې چې د حیماد حالت خه نه خکارې د خولې یي زګونه روان دی پلار یې ژر په لاس ګاړې کې واچوو او تر سرکه یې بوتله تر سو روغتون ته یې یوسې له هغه ځایه یې د ښار روغتون ته انتقال کړ تېول ورسره وو مور یې خور یې ټولو د حیماد په حال ژړل ډاکټرانو ورته ژر ژر اکسیجن چالان کړ لږ سه کار یې وکړ د زړه ضربان یې په یو سکرین کې خکاریدل چې کګې وړې لارې یې جوړولې .ډاکټرانو د حیماد پلار ته وویل " که د څلورویشت ساعتونه نه ووته نو خه به شي .د حیماد مور او خور يي یاسین تلاوت شروع کړ حلیم هم د روغتون په جومات کې له لمونځ وروسته سورت یاسین تلاوت کوو تر ماښامه هماغسې حالت کې وو کله چې د سحر درې څلور بجې شوې نو د حیماد بستر ښونه کې د یو ماشین د خطر اوازونه شول چې ټووټ ټووټ یې کول ټولو ډاکټر حیماد بستر خونې ته ننوتل کوټه کې ډاکټران ورخطا ښکاریدل اکسیجن پې ترې لرې کړ د شاټونو اله یې راواخیسته سو جټکي شاټونه یې ورکړل خو کار یې ورنه کړ د ماشین آوازونه ودریدل په سکرین کې ټولې کرښې سیده سیده شوې ډاکټرانو یو بل ته وکتل سترګې یې ټیټي کړې .یوه ډاکټر د حیماد په خلاسو سترګو لاس ور تیر کړ بنې سترګې یې پټې شوې بل ډاکټر یې د پښې غټي ګوتې وتړلې او سپینه ټوټه یې پرې هواره کړه ډاکتران بهر راووتل خفه او غلې ول د حیماد مور او پلار پرې ورمنډه کړه په ډاکټرانو یې چغې جوړې کړې چې " زما زوې مو سنګه کړ هغه اوس سنګه دی " یوه ډاکټر د حیماد مور ته وویل " له بده مرغه ستاسو زوې وفات شو نور یې نشو زغملی د اعصابو رګ یې وشکیده " روغتون ټول په چغو سر واخیسته شیبه وروسته د جومات ملا ته خبر ورسیده . ملا اعلان وکړ " حمیاد چې د زونډې ګل زوې او سجاد وراره دی په حق ورسیده جنازه به یې د ماښام پنځه بجې ادا کیږې انا لله وانا الیه راجعون"

د سحر وخت وو حنا ته د خپل ژوند وروستې سحر ښکاریده ځکه ماښام یې د موړکانو دوا خولې ته کوله . له کوټې راووتله ګورې چې مور او پلار یې او سهیل ژاړې او چرته د تلو تیارې نیسې له مور نه یې پښتنه وکړه " مورې سه کیسه ده ولې ژاړې " مور یې په سلګو کې ورته وویل " لوري ځان دی تیار کړه چې افغانستان ته ځو حلیم کاکا دي وفات شوې " حنا چغه کړه مور یې تسلې ورکوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهیل پوه شو چې مور یې نه غواړی حنا ته صحیح حل ووای نو هغه هم سه ونه ویل.

ټول د افغانستان په لور روان شول کله چې مازیګر کلی ته ورسیدل نو حنا سترګی په خپل کلی ولګیدی ژړا یی لا دوه چنده شوه او سر پري ګرځیده کله چې د حیمادوی کورته ورنیژدی شو نو کتل یې چې ډلي ډلي خلک ورکره ورروان دی . حنا خپل کلي تر نظر تیر کړ خوږ پری ولګیده کله چې د حیمادوی کورته نژدی شول نو کور کی غوغا جوړه وه حنا لا تر اوسه نه وه پوهه . کله چې حنا د حیماد دوی په کور کی قدم کیخوده مخامخ یی د ښځو په منځ کي کی حیماد ولیده چې ژیړی زنی نه یی د ململ سپینه ټوټه تاوه ده او پروت دی حنا یو دم ودریده غوږونه یی ډپ شول ټولو چغې وهلي خو حنا هیس نه اوریدل لکه بوت غوندی ولاړه وه سر یی په دواړو لاسونو ټینګ ونیوه سترګی یی په پټیدو وی له خولی یی چغه ووتله " حیماده " !!!

دی وخت کی زرمینی پري په چغو ورمنډه کړه خو کله چې حنا ته رارسیدله نو حنا پر ځمکه ولویده کور کی بله غوغا جوړه شوه . ملا امام جومات کی په نفلو ناست وو چې یو ماشوم ورته د بل اعلان خبر راووړه ملا سر وخوځوو خفه شو او ولاړ شو د مایک تر شاه ودریده او دا اعلان یی وکړ " د زوندې ګل لور د ایمل وریره په حق رسیدلی ده او جنازه یی د هغه بل مړی سره یوځای ادا کیږي,, دا اعلان یی وکړ کلی کی غوغا جوړه شوه ټولو خلکو د حیمادوی کره رامنډی وهلی . کله چې پنځه نیمی بجی شوی دوه نوی قبرونه د کلی په هدیره کی څنګ په څنګ جوړ شول . د خزان دوه پاڼی له ونې راپری شوی چې دواړه نیمی شني او نیمي ژیړی وی په ټال ټال سره یوه د قبر په هغه شناخته پریوته چې لیکلی یی وو پري حیماد او بله پاڼه په هغه قبر شناختی باندی پریوته چې لیکلی وو پري حنا.

# د ناول پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**